بسم الله الرحمن الرحیم

# زمـــوږ روشـــنـــفـکـــران

ددې لیکنې سبب زما یو دوست دی چې له ډېره وخته یې پېژنم؛ لوړ خارجي تحصیلات لري او کلونه کلونه د هیواد په یو معتبر پوهنتون کې استاد پاتې شوی دی. زما دا دوست ډېر شاګردان، لیکلي آثار او نړیوال شهرت لري. ډېر کلونه کېږي په غرب کې اوسي او اوس د څو ورځو لپاره وطن ته راغلی دی. یوه ورځ یې لیدو ته ورغلم. د کور انګړ ته په ورننوتو استاد په داسې حال کې چې لوکسه دریشي یې کړې وه زما استقبال ته راغی. سالون کې کښېنستو. یو کوچنی برګ سپی ورپسې وو او هڅه یې وکړه چې د استاد په غېږ کې کښېني. داسې معلومیده چې هغه د استاد په غېږ آموخته وو. هغه ورته وویل چې ځه ولاړ شه زه خبرې کوم. سپي غوږ ورته ونیو او دده څخه ولاړ او زما خواته راغی. استاد نه غوښته چې سپی ماته

رانژدې سي. څرنګه چې ما هم نه غوښته نو مې استاد ته وویل چې دی به لیرې کړو څو په خبرو سره پوه سو. بهر باران سپی لوند کړی وو او زه ویریدم چې جامې مې را خرابې او بې لمانځه نه کړي. استاد که هرڅه هغه په لاس زما څخه لیرې کاوه خو هغه به بیا راتلی. ګویا هغه په میلمنو آموخته وو. بالآخره، استاد هغه لوند سپی په غیږ کې په ډیر محبت واخیست او د سالون تر دروازې دباندې یې ایله کړ او ورته وې ویل چې وروسته به راشې؛ اوس زه مجلس لرم. د سالون دروازه یې پسې وروتړله. داسې معلومیده چې هغه هم موافقه ورسره وکړه داځکه ما یې د نارضایتۍ غپا وانه وریده. استاد زما په خاطر سپي ته دروازه بنده کړه خو تر څو دقیقو پورې یې ذهن نا آرام وو. ما کوښښ وکړ چې دده توجه راوګرځوم.

خبرې مو پیل کړې. غوښتل مې چې د افغانستان په باب د استاد نظر واورم چې نوموړی

وضع څنګه ارزيابي کوي او د حل لار کومه ګوري؟ استاد د افغانستان وضع داسې تحليلوله لکه يو مستشرق چې ورته ګوري او د ډېرو مسلمو خو دردناکو واقعيتونو څخه يې ناخبري ښوده. استاد د امريکايانو حضور په افغانستان کې نه يوازې اشغال نه ګاڼه بلکې يو نعمت يې باله چې استفاده بايد ورڅخه وسي. ما دده ځينې کتابونه هم لوستي دي. هلته يې هم ده د افغانستان پر مسائلو د يو بهرني په څېر کتنه کړې ده او ددې لپاره چې خپله ليکنه مستنده کړي نو مسلسله خارجي حواله ورکوي او د بحث نتيجه يې داسې وي لکه خارجيان چې يې بايد وکړي. زموږ لوی اکثريت روشنفکران دخپل هيواد د تاريخ، سياست او ټولنيزو چارو په باره کې د خپلې خبري د ثبوت لپاره د يو مستشرق ليکنه سند راوړي او لوستونکي ته ورښيي چې دا زما خبره نه ده؛ بلکې زه د هغه مستشرق خبره تاته کوم. که زه تاته مهم نه

ښکارم؛ زما پر شخصيت او خبره دې باور نه راځي، نو دادی خارجی هم وايې چې همداسې ده. يعني که زما نه منې نو د خارجي خبره خو به حتمي منې. په شرقي نړۍ کې د خارجي په اطمينان او ثقه توب کې څوک شک نه کوي او ډير خلک د مستشرق په نقل قول خپله خبره ثقه او مؤکده کوي. البته، په ځينو علمي ساحو کې دا ډول نقل قول ښايي ضرور وي خو په ټولنيزو، فرهنګي او سياسي مسائلو کې خپلې ټولنې ته د نورو ترعينکو کتل، پرځان او پرخپل علم بې باوري سم کار نه دی. کله چې زموږ روشنفکران پر شرقی مسائلو څيړنه کوي، غربی منابع ورپسې ګوري؛ حتی خپله ژبه په غرب کی له مستشرقينو څخه زده کوي.

ماته دا وخت زما يو بل ملګری رایاد سو چې مشران يې د افغانستان مشهور سړي او پر پښتونولی ټينګ ولاړ سپين ږيري وه. هغه هم د

غرب لوی تحصیلکرده او اوس په کابل کی د امریکایي ډیموکراسۍ په دوران کې لوی سړی دی. ما اوهغه په خارج کې په یوه امریکایي پوهنتون کې درس ویلی وو نو ځکه یې زه یوه شپه میلمه کړم. په کورکې یې له ناستي سره سم یو لوی غټ سپی په ځغاسته په داسې حال کې چی لویه اوږده ژبه یې را ایستلی وه زموږ خواته راغی او خپلې دواړې پښې یې زما د کوربه پر دوو اوږو ورکښیښودې او دواړه باړخوګان یې وروڅټل. زما کوربه په ډیر ناز ورته وویل : دلبرجان قند، مرا بمان که با مهمان صحبت بکنم. د سپي نوم یې دلبر پر ایښی وو. تردغه محبت وروسته سپي غوښته چی زما خواته هم راسي خو ما وختی دده لار د چایو په میز بنده کړې وه. داسې معلومیده چې دلبرجان د میلمنو په نوازش آموخته وو. کوربه زما څخه سپی په غیږکې ونیو، پر اوربوز یې مچ کړ او ورته ویې ویل چې جان پدر مرا یک چند دقیقه

اجازه بده که همراه داکترصاحب ګپ بزنم. نوکر ته یې ورناري کړې. هغه چې راغی په فارسي یې ورته وویل چې دلبر زوی مې دځان سره وساته؛ زه دلته مجلس لرم خو ګوره چې درځخه خفه نسي. موږ مجلس وکړ او ده د افغانستان په باب هغسې نظریات ورکول لکه یو خارجي او مستشرق چې یې ورکوي. ده افغاني ټولنې ته د استاد په شان د امریکایانو له عینکو کتل او په افغانستان کې یې د امریکا حضور یو نعمت او ګټلې لاتری ګڼله چې باید افغانان اعظمي استفاده ځینې وکړي. کله چې مجلس پاي ته ورسید او له کوره یې وتلم، سپی دهلیز ته راغی. تابه ویل چې زما کوربه ډیر وخت نه وو لیدلی؛ هغه یې ټینګ په غیږ کې ونیو، دناز خبرې یې ورته وکړې، پر اوربوز یې مچې کړ او دسرای تر دروازې یې پر سر او ملا لاس ورتیراوه. زه ځینې رخصت سوم.

دغو دواړو واقعو زه وهڅولم چې پر خپلو له غربه راغلیو تحصیلکرده کسانو څو ټکي ولیکم. البته، موږ یو کم شمیر داسې روشنفکران هم درلودلي دي چې افغان ولس باید فخر پرې وکړي. دا لیکنه په هیڅ ډول هغو روشنفکرانو ته متوجه نده چې خپل علم، پوهه او استعداد یې دخپلې ټولنې په خدمت کې صادقانه کارولي دي.

د روشنفکر کلمه موږ ته لکه ډېر نور مفاهیم له غرب څخه راغلې ده. موږ په خپل اسلامي فرهنګ کې دا کلمه د مثقف په نوم درلوده؛ هغه غرب خپله کړه، ملمع یې کړه او بیرته یې موږته را صادره کړه. اوس، د روشنفکر (روشن – فکر)، د فکر روښانوونکی یا روڼ آندي کلمه زموږ ژبې ته ترجمه سوې غربي کلمه ده چې په موږ کې رواج ده بیله دې چې موږ یې په اصلي معنی او تاریخي تطور پوره پوه شو. فکر، د پوهې او د یو شي د علت د معلومولو ظرفیت ته وائي او مفکر

هغه څوک دی چې پوهه ولري او د بحث د موضوع په علت پوه وي یا غواړي ځان پوه کړي. د غربي نړۍ په تاریخ کې *روشنفکر هغه مفکر دی چې د خپلې پوهې ظرفیت د خپلې ټولنې په خیر وکاروي او که پدې لارکې د قربانۍ ضرورت وي ځان ونه سپموي.* په انګریزي ژبه کې انټیلیکټ د فکر په معنی او هغه کس ته چې فکري کار کوي إنټیلیکچوول یا مفکر وائي. او روشنفکر هغه مفکر دی چې خپله پوهه د خلکو په خدمت کې کاروي. یو څوک به فکري کار کوي؛ عالم به وي، لیکوال به وي، شاعر به وي، لوړ تحصیلات به لري، استاد به وي، پر غټه چوکۍ به ناست وي خو چې خپله پوهه او فکر یې د ټولنې په ګټه نه وي کارولي، روشنفکر نه ورته ویل کیږي؛ مفکر به وي خو روشنفکر ندی. روشنفکر هغه پوه او مخور کس ته وایي چې د خپلي ټولنی په مشکلاتو پوه وی او د هغو د رفع لپاره د ولس د مخکښ په توګه

راپورته او مبارزه وکړي. دلته د لوستي او روشنفکر ترمنځ فرق دی - یو سړی به لوړ تحصیلات لري خو روشنفکر به نه وي؛ له خارج څخه به یې ډګریانې راوړي وي خو د خپل ولس په نبض به نه پوهیږي، ابتکار او پیغام به نه لري، د مشکل د علاج عملي او وطني نسخه به نه سي وړاندي کولای او د رسالت د اداء کولو او په دغه لار کي د تکلیف د ګاللو همت به نه لري. روشنفکر د خپل ټولني بیدار وجدان او سالم منتقد دی؛ تجدد غواړي، پیغام لري او د هغه لپاره مبارزه کوي. روشنفکر هغه آګاه او دمسؤولیت د احساس څښتن دی چی خپل ملی فرهنګ، دټولني روح او غوښتنی ورمعلومي وي او نژدې او لیري ګاونډ او چاپیریال پیژني او کوښښ کوي خپله ټولنه د مسلطي منحطي وضعي څخه و یوې ښې او مطلوبي خواته رهنمایي کړي. یعني هم د خپلي ټولني درد او غوښتني ورمعلومې وي ، هم د علاج

لپاره یې نسخه لري او هم د دغه درد د لیرې کیدو او غوښتنو د پوره کیدو لپاره مخکښه کار کوي. په روشنفکرۍ کې د خپلې ټولنې او چاپیریال شناخت اساسي موضوع ده. د دغسې شناخت لپاره پلټنه او څېړنه لازمي ده چې روشنفکر یې کوي، هرڅه نقد کوي او د یوې روښاني راتلونکې لپاره کار کوي او مسیر جوړوي. هغه ټولنې ته ځان مسؤول ګڼي او د ښېګڼې او خدمت لپاره یې اخلاقي تعهد او رسالت لري. حتمي نه دی چې روشنفکر دې د ټولنې سیاسی مشر او رهبر وي خو حتمی ده چې ټولنه به پوهوي، بیداروي او حرکت به ورکوي. هغه نه یوازې روښانه فکر لري، بلکې د نوي تفکر د ایجاد صلاحیت او خلاقیت هم لري. هغه دې د نورو د تفکر محض مقلد او د هغوی د فکري تولید محض مصرفوونکی نه وي. دی باید د خپلې ټولنې او زمانې علم ولري، له دنیا سره په ژبه پوه او له عصر سره همګام وي.

په غرب کی روشنفکر د آزادۍ، برابرۍ او بیدینۍ (سکیولاریزم) لپاره مبارزه کوله، داځکه چی پاپانو او اشرافو دخلکو آزادي سلب کړې، نور یی ترځان ټیټ او ناپوه ګڼل او له دین څخه یې په هغه کي دزیاتي او سختۍ په سبب د ټولو خلکو زړونه تور کړي وه. دلته زما د قرآنکریم دا آیت مبارک رایاد سو چی فرمایی: «لا تَغْلُوا فِی دِینِکُمْ غَیرَ الْحَقِّ وَلَا تَتَّبِعُوا أَهْوَاءَ قَوْمٍ قَدْ ضَلُّوا مِنْ قَبْلُ وَأَضَلُّوا كَثِيرًا وَضَلُّوا عَنْ سَوَاءِ السَّبِيلِ – په دین کی تر حد تجاوز مه کوئ ، او د هغه قوم د هوا او هوس متابعت مه کوئ چی تر تاسی پخوا ګمراه سوي دي. نور یې هم له سمي لاري اړولي دي او دوی هم اوښتي دي». هغه حدیث هم راپه یاد سو چی زموږ پیغمبر محمد (ص) فرمایی: «اِیّاکُمْ وَ الغُلُوّ فِي الدِّین فَاِنّما هَلَکَ مَنْ کَانَ قَبْلُکُمْ بِالغُلُوِّ فِي الدِّین - د دین په کار کی افراط او سختي مه کوئ ؛ تر تاسی دمخه قومونه په دین کی د افراط

او سختۍ په سبب هلاک سول». د ابن مسعود (رض) څخه روایت دی چي رسول الله (ص) دري واره تکرار کړه چي په دین کی تر حد متجاوز هلاک کيږي (هَلَکَ الْمُتَنَطِّعُونَ قَالَهَا ثلاثا ).

په تیره نیمه پیړۍ کی موږ یو شمیر مشهور پوهان، لیکوالان او شاعران درلودلي چي خپل استعدادونه يې وطن ته د بهرني ښکيلاک د رابللو، هغه ته د لاري او بستر د هوارولو او دهغه په ګټه د خپل قوم د تخدیر او غولولو لپاره کارولي دي. موږ دا ډول يو څوک ښايی ښه لیکوال او ښه شاعر وبولو خو ملي لیکوال او ملي شاعر يې نه شو بللای. داځکه قلم او مغز یی د خپلو خلکو په ګټه نه بلکې د نورو لپاره استعمال کړی دی. د روشنفکر موضوع همداسی ده. یوچا به ښه او لوړ تعلیم کړی وي خو حتمی نه ده چی روشنفکر وي. بل چا به مکتب نه وي لوستی او یا کم به يې لوستی وي خو آګاه، مستقل، نوښتګر، خوځنده او

فعال به وي، د ولس په درد به خوري، د دین د اصولو په پابندی، د ټولني د مثبتو عنعناتو په درناوی، او له ناپوهي، تحجر او خرافات سره نه پخلاکیدونکی او د حق بې امانه مدافع به وي؛ هغه به علم له افسانو او عقل به له تخیل څخه بیلوي. دغسي څوک روشنفکر دی.

دوه نیم زره کاله دمخه اروپا پرمختللې او متمدنه وه، لوی مفکرین، مؤرخین، لیکوالان، شاعران او د مختلفو علومو او فنونو ماهرین یې درلودل. د سقراط، افلاطون، گزنفون، ارسطو، ارشمیدس، طالیس، بطلیموس، هیراکلیتوس، لوسیبوس، هریدوتس، پیتاگورس، ایساگورس او داسې نورو علماوو نومونه تر اوسه په علمي حلقو کې متداول دي. دهغه وخت پاچاهان په علمي ساحو کې ددغه پرمختګ له برکته د نړی پر زیاته برخه مسلط سول او وروسته یې ددغه پرمختګ په زور د دنیا په نیولو، د نورو په

غلامولو او زبیښلو پیل وکړ. یونانیان چی وروسته په رومیانو مشهور شول په شمال کې تر انګلیستان او په شرق کې تر هندوستان پورې ولاړل.
رومي ټولنه کرار کرار مادي، حریصه او فاسده سوه. عشق او عرفان چي د انسان د فطرت برخه او هغه ته محتوی او معنی ورکوي، کمزوري سول. آزادي او برابري کرار کرار په غلامۍ او باداری واوښتل.
عیسویت راغی او روحانیت یې د ټولنې د تعادل لپاره معرفی کړ. خو دا روحانیت خپله هم د وخت په تیریدو سره تفریطي سو او ددین په نوم یې بیدینی خپله او خپره کړه. هغوی علوم خفه، علماء فرار، یا مړه او یا ژوندي پوست کړل. علم یې یوازې ددین علم وباله او بیله دیني علومو د نورو علومو دروازې یې د خلکو پرمخ وتړلې او ویل یې چې یوازي د دین علم، علم دی او نور علوم په اصل

کې فنون دي چې درد ورسره نه دوا کېږي، مهمل کار دی، حصول یې د وخت ضیاع او نتیجه یې د آخرت تاوان دی. کوم څه چې د پاپانو (مسیحی ملایانو) نه وه زده، دهغه علم زده کړه یې ناروا ګڼل. پاپانو، ددین په نوم حکومت کاوه او مخالفین یې ددین په توره وهل. د علم سرپرستي او حکومت دواړه د پاپانو په لاس کې وه. هرچا په دین تظاهر کاوه. پاپان او روحانیون د فکر د رشد، د علومو د خپریدو او د بیان د آزادۍ دښمنان وه او ددین په نوم د ټولنې سالم تحرک منجمد سوی وو. دغه وخت ملایان او روحانیون مفتخوره او چاپلوسه طبقه وه چې یا به پخپله حاکمه او ظالمه طبقه وه او یا به د ظالمانو ملګرې وه. د هغوی نالائقه، عیاش او فحاش اولادونه او خپلوان به ددولت پر لویو مناصبو مقرر او چور به یې جوړ کړی وو. پاپانو د دین او روحانیت په نوم پر ولس توره تیاره راوستې وه. د اروپا مدنیت یې په

وحشت او پیشرفت یې په پسرفت بدل کړی وو. نه یوازې دا دنیا یې پر خلکو توره تیاره کړېوه بلکې هغه بله دنیا یې هم پرخلکو خرڅوله. د جنت او دوږخ کیلۍ د پاپانو سره وې. یو سړی به مړ سو؛ زوی به یې پاپ یا کاردینال ته ورغی چې پلار مې مړ دی او غواړم په جنت کې یو کور ورته رانیسم. مسیحي ملا (کشیش) به په جنت کې یو جوړ کړی کور پر خرڅاوه. که به د مړی وارث ډېره پیسه نه درلوده نو یوه خالي نمره مځکه به یې په جنت کې اول رانیول او بیا به یې په قسط آبادول. مړي به ترهغو معلق پاته وو چې وارث به یې د کشیش ټول پور ور ادا کړ. د جنت د مځکې بیه په موقعیت هم اړه درلوده؛ د حضرت عیسی علیه السلام قصر او یا دکوم سینټ او مشهور روحاني سړي ماڼۍ ته نژدې مځکه په بیه ګرانه وه. د مړي د وارث د پیسو په مقدار، چنه، عذر او واسطې پورې اړه درلوده چې څنګه کور یا مځکه او په کوم موقعیت کې یې

په جنت کې له پاپ یا کشیش څخه رانیولای سوای. بډایانو به په دې دنیا کې هم عیش کاوه او په ها دنیا کې به یې هم له پاپانو په جنت کې بنګلې او قصرونه رانیول. د غریب او مفکر دواړو خاورې په خوله وې؛ هم یې دا دنیا خطا وه او هم هغه بله. دا وخت د استعدادونو رشد ، ابتکار، کشفیات او دعلومو دتحصیل شوق زولانه سوي وو؛ دمثبت بدلون او حرکت مخ بند وو او د ټولنې د سمون خواته جریان په ټپه ولاړ وو. تصور وکړئ چې مسلمانانو اروپا ته په هغه وخت کې ساعت یووړ، هغوی د ساعت له ټک ټک او زنګه ویریدل او د خاص مجلس په وخت کې به یې هغه بهر لیرې ایښود چې ګواکې مسلمانانو پیریان د استخباراتو په منظور په کښې کښینولي دي او ددوی حال اخلي.

په هغه وخت کې د ښځې حقوق دا وه چې د کور د دروازې ترشاهم چا له ښځې څخه د يوې مسألې پوښتنه نه شوای کولای. ښځه نجسه او د شیطان له ذات څخه بلل کیده چې ښه سړي نزدیکت او نکاح نه ورسره کول. دغه سبب دی چې روحانیونو واده نه کاوه او ویل یې چې که ښځه ښه وای عیسی علیه السلام به کړې وای. دښځې سره په کار کې مشوره عیب او خطا کار وو. کوچني زوی د مور او خور سره پر یوه کاسه ډوډۍ نخوړل چې د زوی یې رعب او ستاره کمه نسي داڅکه ښځه بې عزته او بې غیرته شی ګڼل کیده؛ هسې نه چې ماشوم یې بیا بې غیرته لوی سي. د ښځې دخولې ناره مرداره وه او که به د نارینه پرجامه ولګیده هغه به مرداره سوه. د کلي هغه ښځې چې حیض یا نفاس به ورپیښ وو نجسې ګڼل کیدې او له کورنۍ او کلي څخه بهر په یوه جلا خونه کې به ساتل کیدې. ښځه په بازار کې د خرې او غوا سره سودا کیده. یو سړي

چې به غوښته خپله زړه یا بدرنګه ښځه په ځوانه یا ښایسته بدله کړي نو خپله ښځه به یې بازارته بو تله او د یوې ځوانې یا ښایستې سره به یې تبادله کړه. دځوانې ښځې سرې ته به یې په تفاوت کې غوا یا خره یا څو منه جوار ورکړل. حکومت د اشرافو او خانانو په لاس کې وو او پاپانو هم په خاصو اشرافی حلقو پورې اړه درلوده. دا دواړه مقتدرې حلقې (اشراف او روحانیون) چې یو له بله سره جوړ وه، پرخلکو یې په ګډه حکومت کاوه او د هغوی هرڅه یې په کنترول کې وه. دوی د خلکو لخوا نه وه انتخاب سوي او د عوامو سره یې د خواخوږۍ هیڅ تعلق نه وو بلکې هغوی یې په مختلفو نومونو زبیښل. روحانیون د حکومت او حکومت د روحانیونو ملاتړي وو او په ګډه د لیوانو په ډول عوامو ته ور ایله شوي وو. روحانیونو ویل چې د دولت مشر یا پاچاد خدای(ج) له خوا تعیینیږي، د هغه تر مستقیم هدایت لاندي دی، سهوه نه کوي،

معصوم دی او اطاعت یې پر خلکو بې چون و چرا واجب دی؛ پرهغه انتقاد او بغاوت جرم دی. دغه حالت پر اروپا ذلت او خواري راوستې وه. نو ځکه مسلمانانو چې هغه وخت پوه او قوي وه، دوی تر اطریش پورې ونیول او نژدې وه چې ټوله اروپا ترخپل تسلط لاندې راولي.

په دغه وخت کې (۱۵ - ۱۸ پیړۍ) په اروپا کې یو شمیر مفکرین پیدا سول او ویل یې چې زموږ ټولنیزه او سیاسي وضعه باید بدله سي او پخوانی تللی یونانی برم باید بیرته راخپل کړو. هغوی د خپلي ټولني د ښېګڼي، آزادۍ او برابرۍ په نوم راپورته سول. دوی ویل دا کار تر هغو نه شو کولای چې د علم تعریف بدل او ملایان او روحانیون په کلیسا پورې محدود نه کړو. دوی انګیرل چې زموږ د ټولنې د واقعي نجات یکې یوه لاره ده او هغه دا چې دین او دولت سره جلا شي. یعني دین ته د دولت په چارو کې د مداخلې حق

ورنه کړه سي او د ديني علومو په عوض کې د حسي پديدو علم ته اصلي علم ووايو. دوی د پاپانو برخلاف چې خلک يې رهبانيت ته هڅول، خلک مادي ژوند ته بلل او د حيات عيني اصل ته يې معتقد کول. هغوته چې پاپانو د آخرت په هيله خندا حرامه کړې وه وويل سوه چې وخنديږي، وګډيږي او له دغو څو ورځو ژوند څخه خوند واخلي. د دې لپاره چې د پاپانو له جغه خلاصون ومومي، خلکو ته وويل سوه چې کوم شی پاپان وايي هغه ټول درواغ دي، د غيبي خبرو ، عرفان او فلسفي تفکر پر ځای مادي ژوند ته توجه په کارده. څه چې نه وينو پرهغه عقيده او په هغه پسې هڅې نه دي په کار. زموږ يوڅو ورځې ژوند دی او پاپان يې د خپل عيش وعشرت لپاره د آخرت په نوم او خبرو راباندې خرابوي. څه چې دي همدا دنيا ده چې بايد ګټه او لذت ځنې واخيستل سي. روحانيونو چې خلکو ته ويل: دنيا خوشي او آخرت ټينګ

کړي، دوی برعکس ویل: دنیا ټینګه او آخرت خوشي کړئ. دا نوې طبقه د پاپانو د فکر او عمل پر ضد ولاړه وه؛ هغه څه یې کول چې پاپانو نه کول او هغه څه یې نه کول چې پاپانو کول. دوی دین په کلي نفی کړ داځکه د پرمختګ او آزادۍ په لار کې یې د دین علمبرداران (پاپان) خنډ بلل. دا ډول مفکرین او غیرمذهبي پوهان یا د وجدان د زندان فراریان ورځ تر ورځې ډیریدل او د روحانیونو په خلاف یې صف غځیدی. دغه نوې ډله، د معنوي ژوند د فلسفي څېړنو محصول نه بلکې دهغه وخت د منحطو مسلطو شرایطو ردالعمل وو.

روحانیونو او اشرافو چې اقتدار یې په لاس کې وو د دغه نوې طبقې په خلاف سخت عکس العمل وښود او د دوی ډیر کسان یې بندیان، مړه او ژوندي پوست کړل. خو دې نوې ډلې، خپل فکري انکشاف، تبلیغ او د روحانیت په خلاف مبارزې ته ادامه ورکړه. خلکو ته یې له

مسلط منحط حالته د نجات لار ښووله، د پاپانو ظلمونه او سازشونه یې بیانول او د هغوی اصلي څیرې یې رسوا کولې. دغه روښانونکې او مبارزې طبقې ته خلکو روشنفکران ویل چا چې د خپلو خلکو دهوساینې لپاره فکر کاوه او د خپلو سرونو په قربانی یې د خپلې ټولنې د نجات او پرمختګ لپاره مبارزه کوله. یعنې فکر یې درلود ، خپله یې هم ځان ته لار روښانه تعیین کړې وه او ټولنه یې هم له تاریکۍ څخه روښنایي ته را ایستله. په دې ډول دغو مفکرانو نه یوازې فکر کاوه، بلکې د خپلې ټولنې د صلاح و فلاح لپاره پیشقدمه هم وه؛ له تاریکۍ او ظلم څخه د خلاصون لار یې اول خپله ترسیم کړې وه او بیایې خلکو ته ښودله. د دغې خطرناکې لارې په سرکې هم دوی روان وه او پخپلو ارواحو او وینو یې دغه نوی کاروان رهبري کاوه. دا ډله هم مفکره وه او هم د خپلې ټولنې خدمتګاره. دوی روشنفکران وه. دغه روشنفکره طبقه بې دینه

تحصیلکرده مبارزان وو. د دین په خلاف د روشنفکرانو مبارزه د باطل پرضد د حق قیام و چې هم منطقي وه او هم د ولس په ګټه. په دغه لاره کې په زرو روشنفکران مړه سول. ددغه قیام په نتیجه کې د پروتستانت مذهب راپیدا سو، پر رومي پاپانو یې لومړی پروتست (اعتراض) او بیا یې ورسره مسلحانه مبارزه وکړه. په دغو جنګو کې په لکونو پروتستانتان مړه سول. ورپسې د روحانیت له طبقې سره د روشنفکرانو په مشرۍ د ولس له خوا بې امانه مبارزه وسوه. بالآخره، د روشنفکرانو فکر او مبارزې، پاپان او روحانیون له قدرته وغورځول، په کلیسا یې ننه ایستل او دروازې یې ورپسې وتړلې. په عوض کې یې د علومو او د ټولنې د ترقۍ دروازې پرانستې. پخوا چې به یوازې د روحانیونو اولادونو د تعلیم حق درلود، دلته هر چا ته د مدرسو دروازې خلاصې سوې. البته، دا مدرسې غیر مذهبي وې. حکومت چې

پخوا د خانانو او اشرافیانو په لاس کې و، دلته د عوامو په اختیار کې سو. پخوا چې د علم حصول محدود او یوازې د دین علم، علم بلل کیدی، اوس د ټولو علومو حصول ته اهمیت ورکول سو. په دې ډول اروپا بیرته خپل پخوانی برم اعاده کړ؛ عالمان، فیلسوفان، ادیبان، مبتکران او مخترعان یې پیدا کړل او خپل منحط، پریشانه او وروسته پاته ژوند یې په هوساینې او ددنیا په باداری بدل کړ.

هو، اروپا هغه وخت له بدبختیه خلاصه، له تیارو راووتله او مترقي سوه چې د پاپ او روحانیونو له قیده آزاده او د هغو د قدرت ټغر یې ورټول کړ. دغه نوي طبقې (روشنفکرانو) علم یوازې او یوازې د مادي ژوند د سمون لپاره وکاراوه. د مادي ژوند سمون، یعنې ښه او سیدل؛ او ښه اوسیدل یعنې ښه مصرف کول او ښه او ډیر مصرف بیا ښه او ډیر تولید ایجاباوه. په دې ډول

ددوی ټوله توجه تولید او مصرف ته وه او علوم یې هم تر ډېره حده تولید او استهلاک ته متوجه وه. په سرعت سره په غرب کې د روشنفکرانو د ظهور او قربانیو په زور د بې دینۍ او مادیګرۍ فرهنګ خپور او مسلط سو، مادي ترقی یې وکړه، پخوانی برم یې اعاده سو او دنیا یې ونیوله. لکه پخوا چې هر چا په دین تظاهر کاوه، دا وخت هر چا په بې دینی فخر کاوه او حق په جانب هم وه.

دغه وخت مسلمانان، د غرب برعکس، متمدن او پرمختللي وه. هغه وخت چې اروپا د اشرافیت او مذهب تر تسلط لاندې د خپل تاریخ توره دوره تیروله، په اسلامي قلمرو کې علم وو، تمدن وو او پرمختګ وو. اسلام یونیم زر کاله دمخه په مدینه منوره کې د یوه سالم انساني متمدن نظام خښته کښیښوده چې د وطن او وطندار تعریف په کې سوی وو او هلته هر څوک، مسلمان وو او که غیرمسلمان، په عدالت کې

اوسیدل؛ د دیني معتقداتو آزادي او د فکر وسعت يې درلودل. تردې حده چې کله د نجران د مسیحیانو یوهیأت د مذاکراتو لپاره مدينې منورې ته راغی نو رسول الله (ص) ورته په مسجد نبوي کې د عبادت اجازه ورکړه؛ کله چې د خيبر تر فتحې وروسته يهودان مات او پناه يې وغوښته نو آنحضرت (ص) خپلو ملګرو ته وویل چې په زور به ځوک د يهودو د مسلمانيدو کوښښ نه کوي داځکه چې په اسلام کې ددين په قبلولوکې زور نسته، حق او باطل سره معلوم او واضح دي؛ دا د خلکو خپله خوښه ده چی مسلمانان کيږي او که پر خپل دين پاته کيږي (لااکراه فی الدین. قد تبین الرشد من الغی). اسلام د خپل قدرت د اوج په وختکي په زور پر نورو خپل دين تحميل نه کړ. (افأنت تکره الناس حتی یکونوا مؤمنین ـ آیا ته مجبوروې خلک چی مؤمنان شي؟ هيڅکله نه).

په صدر اسلام کي د قوم او نژاد برتري نه وه بلکې ټول د قانون په وړاندې مساوي وو. د اسلام پیغمبر (ص) وفرمایل چې شرافت د انسان په علم او ادب دی، نه په مال او نسب. او بیا یې وفرمایل چې عرب پر عجم برتري نه لري مګر په تقوی. ژبه یې یوازي د افهام او تفهیم وسیله وبلل (حدیث شریف: لیست العربیة بأحدکم من أب ولا أم وإنما العربیة اللسان فمن تکلم العربیة فهو عربي). د قرآنکریم په حکم، اسلامي حکومت باید په مشوره او مشارکت وي (و أمرهم شوری بینهم) یا (و شاورهم فی الأمر). یونیم زر کاله دمخه اسلام، یو انسان و بل انسان ته له سر ټیټئ او یوځوک یې د بل له استثمار، استحمار او استعمار څخه منع کړ او د استبداد او استغلاب په خلاف یې خلک وهڅول. اسلام، انسان له بت پرستئ، ذلت، احساس کمترئ او د نفس أمارة بسوء له چنګال څخه خلاص کړ. اسلام د هغه وخت

په طرز تفکر کې عظیم انقلاب راووست او ګمراه سوې ټولنه یې خپل فطري اصل او مسیر ته متوجه کړه؛ انسان یې د پیدا ایښت له ورځې آزاد وباله او د آزاد انسان استعباد او مریی کول حرام. د اسلام دوهم خلیفه (عمر بن الخطاب) په ویل: متی استعبدتم الناس وقد ولدتهم أمهاتهم أحرارا –له کومه مو هغه انسانان چې میندو آزاد پیدا کړي دي خپل مریان کړي دي؟ اسلام مریانو او خوارانو ته دومره عزت او توان ورکړ چې د نړۍ لویو امپراتورۍ یې په راوپرزولي او عام ولسونه یې د ظالمانو له منګلو خلاص کړل. اسلام تفاوت منی خو د بډای په لاس کی د مال او دولت د داسی ټولیدو مخالف دی چې اقتصادي دښمني طبقې ځیني جوړې او ټکر او تنفر ځینی پیښ شي (کی لایکون دولة بین الأغنیاء منکم – چې دولت ستاسی د اغنیاؤ په لاس کی انحصار نه وي). اسلام بډای ته وویل چی ستا په مال کی د بیوسه

او محرومو کسانو معلومه برخه - زکات ـ حق دی (في اموالهم حق معلوم للسائل والمحروم) چي د هغه په ورکړه پر چا احسان نشي اچولای بلکی دايې فرض دي چی اداء کوي به يې. په اسلام کی پر زکات سربيره، صدقه هم د بډای په مال کی د محروم حق دی (و في اموالهم حق للسائل والمحروم) خو دا د زکات په شان معلوم نه دی او د هغه اندازه يې د بډای انساني خواخوږي ته پري ايښی ده.

اسلام انسان د خدای (ج) خليفه، د هغه روح او اشرف المخلوقات بولي. اسلام، د بشري حقونو تساوي، د حاکمانو او مشرانو محاسبه او د قضاء استقلال اعلان او د رنګ، نژاد او سمت برتري يې رد کړه او په دنده کي يې اهليت مطرح کړ. دلته د يوسف عليه السلام د کيسې ذکر مونږ ته د ژوند يو درس دی. کله چی هغه د مصر له پاچا څخه مشخصه دنده وغوښته نو پاچا ورته وويل

چی تاته به دغه دنده ولی درکوم؟ ته خو کنعانئ یې – زموږ له قومه نه یې. یوسف (ع) ورته وویل چی په وظیفه کی (د قوم، ژبي او نژاد مسأله نده مطرح بلکې) اهلیت مطرح دی او زه د همدغه کار اهل یم (انی حفیظ علیم). هغه وویل چی کار باید اهل ته وسپارل شي داځکه دنده او وظیفه یو امانت دی او امانت باید د هغه اهل ته ورکول شی. الله (ج) فرمايي: ان الله يأمركم أن تؤدوا الأمانات الی اهلها ـ الله (ج) حکم کوي چی امانتونه د هغو اهل ته وسپاری. یوسف (ع) د کار اهل هغه څوک وباله چی هم به د دندي او وظیفې په اړه لازم علم او پوهه لري او هم به صادق وي. یعنی که یو څوک هرڅومره متقی، دینداره او صادق وي خو چي په کار پوه او مسلکی نه وي، هغه دنده به نه ورسپارل کیږي. همداراز، که یو څوک هرڅومره مسلکی او په کار پوه او تجربه ولري خو چی صادق نه وي، د کار اهل نه دی او نه به مقرر کیږي. قرآنکریم

فرمايي چی یوسف (ع) دهمدغه اهلیت په سبب مقرر، په مصر کي متمکن او د عزت و قدرت څښتن سو (و کذالک مکنا لیوسف فی الأرض یتبوأ حیث یشآء). و اهل ته د کار د سپارلو برکت وو چی خلک له لوږي وژغورل سول او د مملکت نظام په عزت باقی پاته سو.

په هغه وخت کي چې اروپا د جهالت په توره تیاره کې وه، مسلمانانو لوی مجتهد ائمه، متبحر عالمان او بېشمیره مفکران درلودل لکه نعمان بن ثابت (۷۰۲-۷۷۲م)، محمد بن ادریس الشافعي (متوفی ۸۰۱م)، مالک بن انس (۷۱۵-۸۰۱م)، احمد بن حنبل (متولد ۷۸۲م)، یعقوب الکندي (۸۰۱-۸۷۳م)، ابو نصر فارابي (۸۷۰-۹۵۰م)، أبوالحسن ماوردي (پیدا ایښت ۹۲۲)، ابو ریحان البیرونی (۹۷۳-۱۰۴۸م)، ابن سینا(۹۸۰-۱۰۳۷)، محمد الغزالی(۱۰۵۸-۱۱۱۱م)، ابن رشد (۱۱۲۲-۱۱۹۸م)، فخر الدین رازي (۱۱۴۹-

۱۲۰۹)،ابن عربی (۱۱۲۵- ۱۲۴۰م)، ناصرالدین طوسی (۱۲۰۱-۱۲۷۴م)، جلال الدین بلخی (۱۲۰۷-۱۲۷۳م)، ابن نفیس (۱۲۱۳-۱۲۸۸م)، سعدالدین تفتازانی (۱۳۲۲-۱۳۹۰م)، ابن خلدون (۱۳۳۲-۱۴۰۶)، نورالدین عبدالرحمن جامی (۱۴۱۴-۱۴۹۲م)، ابن بطوطة (۱۳۰۴-۱۳۷۷م)، علاء الدین دمشقي (۱۳۷۳-۱۴۳۸م)، کمال بهزاد (۱۴۵۵-۱۵۳۵م)، دولت لوانی (۱۲۵۰ م شاوخوا اوسید )، خوشحالخان خټک (۱۲۱۳-۱۲۸۹م) او په زرو نور. اسلام، د دغو عالمانو د هڅو په نتیجه کې ترقی وکړه او د بشري تاریخ زرین باب یې جوړ کړ چې د غرب د اوسني پرمختګ بنیادونه تشکیلوي.

زموږ پر پیغمبر (ص) چې په ټول عمر یې کتاب او قلم په لاس کې نه وو نیولي، ددې په عوض کې چې د ښت، ریګ، اوښ او پسونو په باب آیاتونه نازل شوی وای لومړنۍ وحې د علم، کتاب او قلم وه او دا دعاء ورته تلقین کیده چې

ووایه: یا ربه زما علم او پوهه رازیاته کړه (ربي زدني علما ). د رسول الله (ص) لخوا د بدر د جنګ د بندیانو د خوشي کولو یو شرط د لسو مسلمانو ځوانانو باسواده کول وو. الله (ج) په قرآنکریم کې د قلم په تقدس قسم خوړلی او په علم سره یې پر نورو مخلوقاتو د آدم برتري ستایلې ده. اسلام د دیني او دنیوي علومو حصول او په کائناتو کې تفکر او د هغه د تسخیرهڅې د هرمسلمان وجیبه وګڼله او په هغه یې امر وکړ. اسلام د عصري علومو حصول فرض کفائي وګڼه او اسلامي ټولنه یې مکلفه کړه چې د هغو په لاسته راوستو کې جدي تلاښ وکړي (و أعدوا لهم مااستطعتم من قوة). قرآنکریم فرمایلي دي چې مځکه او آسمانونه مو تاسی ته مسخر کړیدی؛ که تاسې کولای شې د مځکې او آسمانونو له مدارونو تیر شې او هغه تسخیر کړئ نو دا کار وکړئ خو دا یوازې د لازمو علومو او وسائلو د حصول په صورت کې کولای شی (ان

استطعتم أن تنفذوا من اقطار السموات والارض فانفذوا. لاتنفذون الا بسلطان). اسلام د کائنات په تسخیر او له هغه څخه په ګټه اخیستو امر کړیدی. اسلام علم ته دومره اهمیت ورکړیدی چې یو تعلیمیافته سړی یې په یو حد کې تر جاهل انسان غوره بللی دی. دغسې یو مترقی دین او حاملان یې د منځنیو پیړیو د منحرف آیین او ګمراهو پاپانو سره یو ډول بلل لویه بې خبري او عظیم ظلم دی چې زموږ روشنفکران یې مرتکب شوی دي. په اسلامي نړۍ کي ملایانو هغه واک نه درلود لکه په اروپا کې چې پاپانو درلود. دلته ملا او روحاني تر هرچا ډیر د آخرت له حسابه ویریږي (انما یخشی الله من عباده العلماء). دلته قدرت د ملایانو او روحانیونو په لاس کې نه وو. د ملا مادي ژوند د ټولنې تر متوسطې طبقې هم کښته وو او ګذاره یې د نورو په ټوک، څیره، زکات او خیرات وه. زموږ ملایان په هیڅ ډول له پاپانو سره نه مقایسه کیږي.

مسلمانان هغه وخت خوار سول چې حکومت، چې په اسلام کې د ولس مال وو، شخصي سو او مشر چې په اسلام کې دخلکو خدمتکار وو د خلکو بادار شو. او هغه لار يې خپله کړه کومه چې اروپايانو په توره دوره کي تعقيبوله. مسلمانان هغه وخت خوار سول چې حاکمانو يې علماؤ ته په سپکه وکتل، د ديني او عصري علومو حصول يې چې دواړو ښه رونق موندلی او د يوه باز دوه وزرونه وه محدود او وتړل، د دين په نوم بيديني پيل او د دين په توره مفکران، مجتهدان او د قدرت سالم منتقدان وځپل شول؛ د بيان آزادي چې د اسلامي تمدن يو اصل او افضل جهاد وو محدوده سوه. په اسلام کی رښتونی روشنفکر او مجاهد هغه دی چی د جابر سلطان په مخ کي يې د حق خبره او د هغه دفاع وکړه(حديث: دجابر سلطان په مخ کې د حق خبره کول افضل جهاد دی). جهاد يوازي د مقاتلې په معنی نه دی بلکې ټولنه خير ،

صلاح او فلاح ته بیول خپله افضل جهاد او روشنفکري ده.

اسلام، د بیان د آزادۍ سره په أمت کی د فردي تعهد او ټولنیز مسؤولیت احساس پیدا کړ. د آذان په اوریدو به مسلمانان په شوق مسجد ته د نفس د تذکیی او د خپل خدای (ج) په وړاندي د کړو تعهداتو د تازه کولو لپاره تلل. ټولینز مسؤولت ته هم متوجه وه. عمر ابن الخطاب (رض) چی د اسلام خلیفه، د مصر، ایران او روم فاتح وو د خلکو په وړاندی حساب ورکاوه. یوه ورځ چی یې د غنیمت له ماله ځان ته جامې جوړي کړی وې، تر اعتراض لاندي راغی چی ستا ټوکر کم وو نو دومره اوږدې جامې څنګه ځیني جوړي شوې؟ اسلام کی خو عدالت دی، ټوکر باید د امیر او فقیر ترمنځ مساوي تقسیم شوی وي. خلیفه په ناستو کسانو کي خپل زوی (عبدالله ابن عمر) ته لاس ونیو چی ده خپله برخه ماته راکړه. زما جامی له دوو

برخو جوړ شوی دی نو ځکه اوږدې دي. دلته د مشر په وړاندی د بیان آزادي ته وګوری؛ د شخصیت تکوین او د ټولنی په وړاندی د فرد او دولت د مسؤلیت احساس او حسابدهي وګوری چی د هغه مشر په وړاندي یو ساده سړی ودرید چا چی د ایران شاهنشاهي راغورځولې وه؛ د مصر امپراتوری یې نسکوره کړیوه او روم یی د خپل ټول عظمت سره تسخیر کړی وو. پر داسی بیدار او روشنفکره امت د اروپا د پاپانو د حاکمیت د تور دوران ټا په لګول لویه تیروتنه او جفا ده.

موږ مسلمانان هغه وخت خوار شوو چی په موږ کی تفکر، استدلال او اجتهاد چې د دین بل اصل وو، منجمد سو؛ حاکمان ظالمان او د دولت چارې د هغوی نالایقو، عیاشو او فحاشو اولادونو، خپلوانو، او نا اهله تالي څټو ته حواله سوې، په اسلامي قلمرو کې عیاشي او فحاشي خپره ،اسلامي مدنیت په وحشت او پیشرفت په

پسرفت بدل سول. پر مسلمانانو هغه وخت د انحطاط او خوارۍ دور راغی چې حاکمانو يې د یوروپ د پاپانو او اشرافو خصوصیات خپل کړل؛ د استعدادونو د رشد او ابتکار مخه يې ونیوه او د مداوم مثبت تغییر او پرمختګ لاره يې چې د اسلامي نظام روح ګڼل کیده، بنده کړه. هغه اسلام چې فطرت يې دايمي اوخالد وو او خلک يې له ارتجاع، جمود او د منفي عنعناتو له پیروۍ څخه منع کول، دا وخت پخپله د ارتجاع، خرافاتو، مضرو رواجونو او عقبګرايۍ ښکار شو.

ښځه چې په اسلام کې يې د نر پشان تجارت، کسب وکار، دعلومو دحصول موقع او د بیان آزادي درلوده د اروپا د پاپانو د وخت د خرید اوفروش متاع سوه. هغه ښځه چې پیغمبر (ص) وايې چې د نارینه ورور دی، حیثیت يې داوخت د مینځي حد ته را ټیټ سو. که پاپانو ښځو ته نجس

جنس وایه، اوس یې موږ هم په عام محضر کې په نوم اخیستو شرمیږو او «حیاء دې وي» ورسره وایو. که مسیحي پاپانو ښځه د شیطان له ذاته ګڼله نو موږ ته هم دا تعریف په زړه کې خوند راکوي. زموږ پاک رسول (ص) په مهمو کارونو کې د ښځو سره مشوره کوله او بیعت یې ځینې غوښت، خو موږ اوس د پاپانو په پیروۍ د ښځې سره مشوره عیب او خپل کسرشان ګڼو. که د عیسویانو نارینو له ښځو سره په یوه کاسه کی ډوډۍ خوړل د نر د هیبت توهین او د شوکت کسر باله. موږ یی هم همداسي ګڼو او د اسلامی نړۍ په یو شمیر سیمو کی اوس هم نارینه له ښځو سره په یوه کاسه کی ډوډۍ نه خوري. که په اروپا کې هغه وخت حکومت د عوامو په ځان لېوه وو، اوس دلته هم وضع ترهغې کمه نه ده.

په اروپا کې روشنفکران د خپلې ټولنې د شرایطو محصول او ردالعمل وو خو زموږ

روشنفکران زموږ د ټولنې د عميق درک په نتيجه کې ندي رامنځته سوي بلکې غرب ته تللي، هلته يې تعليم کړی؛ دهغوی فکر يې اخيستی او هغه يې خپل وطن ته د مادي متاع په شان وارد کړی دی، بې له دې چې فکر وکړي چې دا متاع د ده په وطن کې خريدار لري او که نه؟ دوی په يوروپ او امريکا کې پرمختګ وليد او غوښتل يې چې خپل وطن يې هم همداسې هوسا شي خو نه پوهيدل چې آيا د دوی د ټولنې شرايط دغه وارداتي متاع ته برابر دي او که نه؟ آيا دغه نوی تخم ته چې دوی راوړيدی او په اروپا کې يې ښه نتيجه ورکړېده ددوی په وطن کې مځکه، آب وهوا ورته آماده دي او که نه؟ آيا زموږ شرائط همداسې دي لکه دهغوی؟ زموږ په ډيرو تحصيلکرده ګانو کې دا توان نسته چې هغه څه چې په غرب کې يې زده کړيدي د خپلې ټولنې د شرائطو سره منطبق او پخپل وطني چوکاټ کې يې واچوي؛ داځکه دا

کار لومړی د خپلې ټولنې د تاروپود او جوړښت سمه پوهه غواړي چې دوی یې نه لري. او دوهم د غرب تعلیم یې هم باید سم کړی وي. یعنې نوموړی باید اول دخپلې ټولنې پوهه ولري او وروسته غربي پوهه ترلاسه کړي او بیا د هغوی دواړو له امتزاج څخه د خپلې ټولنې په ګټه کار واخلي چې دې شاقه کار ته زموږ تعلیمیافته ځان نسي ټینګولای. واقعا، زور هم غواړي. موږ داسې ملي حکومتونه هم ندي درلودلي چې دا دواړه پوهې سره همږغې کړي - غربي پوهه د ملي روحیې سره سازګاره کړي. آسانه کار کاپي کول، تقلید او واردول دي چې ډیر دقت او د مغز سترړیا نه غواړي. زموږ اکثرو تعلیمیافته وو همدا کار وکړ او حکومتونه مو هم د نالایقو په لاس کې وه او دغه تشه یې ډکه نه کړه. زموږ روشنفکران، د اروپائي روشنفکرانو برخلاف، غرب ته په تلو سره له خپلې ټولنې، تاریخ او فرهنګه لیرې او بیګانه سول.

ددوی اکثرو چې په واسطه د خارج بورسونه اخیستي وه، د اروپائي روشنفکرانو تقلید او پیښې کولې؛ پداسې حال کې چې هیڅ د هغوی په شان نه وو. د اروپا او امریکا ښکلي ښارونه، دنګې ماڼۍ او د خلکو آرام ژوند یې لیدلی وو، په موټر، الوتکې او اورګاډي کې سپاره سوی وو او د غرب د تمدن زرق و برق یې سترګې وړې وې خو د هغوی پشان خپلې ټولنې ته ګټور نه وو؛ غربي روشنفکرانو د خپلې ټولنې په عمیق درک، نه ستړی کیدونکي زیار او د سر په قربانۍ ګټلې وه او زموږ هغو په آسانه، تقلید او عیش پیدا کړیوه.

زموږ روشنفکرانو هیڅکله د غرب د تفکر تاریخ سم ونه لووست او د غربي تمدن حقیقت او ابعاد یې درک نکړای شو. دوی د غربي تفکر خلک نه وه بلکې غرب زده وه. اروپا هغه وخت بیرته خپل برم لاس ته راوړ چې بنیاد ګره او اصولي شوه یعنی خپل پخوانی تاریخ یې راژوندی

کړ. زموږ هغو بنیاد ګرایی او د اصولو پر بنیاد تفکر عیب وګڼه. هغوی مثبت رجعت پسند شول او زموږ هغو د ارتجاع د ټاپې له ویری خپل تاریخی ارزښتونو ته شا کړه. د اروپا روشنفکران عالمان او پوهان وه چې د خپلو ټولنو عمیق درک یی درلود ؛ هغو ګټه په خپل ابتکار او زیار ترلاسه کړي وه. د خپلي ټولني او فرهنګ څخه د لیري پاته کیدو په سبب زموږ روشنفکرانو د خپل ولس د ټولنیز بحر د تل سره تماس نه درلود چی ملغلري راوباسي بلکې لکه وچ لرګي د لویو طاقتونو د سیاسی جریان سره بې روح روان وه. تاریخ وښوول چی د شوروي اتحاد په ماته سره په افغانستان او ټوله اسلامي نړۍ کی د هغوی پلویان نه یوازی له قدرته ولویدل بلکې د تفکر اډانه یې هم ماته سوه؛ داځکه چی ملي او ولسي بنیاد یې نه درلود. دغه ډول به په افغانستان کی د امریکا په ماته سره د هغوی پیروان هم د ذهنی ماتي سره مخ سي. دغه

سبب دی چې زموږ اکثره روشنفکران نه یوازې خپلې ټولنې ته ګټور ثابت نسول بلکې برعکس مضر واقع سول او د واقعي روشنفکره طبقې د راپیدا کیدو په مخ کې خنډ سول. که دوی نه وای کیدای سوای یوه بله ډله پیدا سوې وای چې عصري تمدن یې د خپلې خاورې پر تاریخي، فرهنګي او ټولنیزو پایو بناء کړی وای. داځکه چې زموږ دین او فرهنګ د اروپا د پاپانو د وخت پشان دعلم، تفکر او پرمختګ دښمن نه وو بلکې ممد وو؛ خو زموږ زیات شمیر روشنفکران نه پوهیدل او ونه توانیدل چې نوی تمدن دخپلې ټولنې په قالب کې عیار کړي. دریشي آغوستل، نکټائي تړل، شراب خوړل، فحاشي کول او د پلار پر ږیره، خبرو او لباس خندل خو څه تمدن ندی. دا ښاغلي دکعبې په نیت ترکستان ته روان وه. شعر دی چې وایي:

اودس کاوه صوفي پر یوه ویاله څه یې ویل
استنجاء کې یې د پزي د پریولو دعا لوستل
یو ملا ورته پر غوږ سو چې لالیه ښه دعا ده
خو سورې دې خطا کړی په بریتو کې یې خندل.

زمونږ روشنفکرانو اکثره د استعمار په خدمت کې فهمیده یا نافهمیده د لارې دکشف د ډلې یا ځاروان او حتی اربکیو دنده اجراء کړې ده. استعمار ګران دمخه تردې چې کوم هیواد ته لاړشي، د هغه هیواد په باره کې د خپلو مستشرقینو سره چې په حقیقت کې په وروسته پاتې هیوادونو کې ددوی علمي جاسوسان او اربکیان دي، مشوره کوي، پلان جوړوي او بیا یې په همهغه هیواد کې د هغو په اصطلاح د روشنفکرانو په ذریعه عملي کوي کوم چې دوی تربیه کړي وي. دغه روشنفکران (؟) استعمارګرو ته د خپل هیواد د اشغال لندې لارې ورښیي او خپله هم د هغوی د پلانونو دعملي کیدو لپاره د

مخلصانه همکاری ټټر وهي. البته، استعمارګر خو داسې نه ورته وايي چې زه ستا هیواد نیسم، ستا پلار، ورونه، خویندې، خپلوان، قوم او ولس در مریان کوم او هستي مو درلوټم. بلکې ورته وايي چې موږ چې ستا د قوم لوږه، غریبي، ستومانه ژوند او ظالم حاکمان وینو د انسانیت په حکم دلته نا آرام یو. که څه هم موږ او تاسې یو لړ ټولنیز او فرهنګي توپیرونه سره لرو خو په انسانیت کې سره شریک یو. زموږ ټولو یو مذهب دی او هغه انسانیت دی. دا نور مذهبونه ورک کول په کار دي. انسانیت پوله نه لري او دا مځکه د ټولو انسانانو مشترک مال دی. وطن هم یوه ارتجاعي کلمه ده، جهاني فکر کول په کار دي. هغه څوک چې یوازې د خپل وطن د ګټو په فکر کې دی مرتجع او عقب مانده دی. مترقي هغه څوک دی چې د ټول بشریت خیر وغواړي او پر انټرناسیونالزم او ګلوبلایزیشن یې عقیده وي.

کوم اخلاق، عفت، عصمت، ناموس چې دین تاسې ته وايي، پریوتې او منحطې پدیدې دي. د دنیا له نعمتونو خوند اخیستل په کار دي. که تاسې زموږ هیواد ته آزاد نه سی راتلای او په کلیو کې مو نسئ گرځیدلای دا یو انټرناسیونال امنیتي او ایډیالوجیک مصلحت دی او چندانې ضرورت هم نسته، موږ سم یو خو ستاسې سرحدونه باید زموږ پر مخ خلاص او ستاسی کلیو ته زموږ دسترسي وي چې دانسانیت، ورورولی، برابری، آزادی او ډیموکراسی پیغامونه پکښې خپاره کړل سي. موږ تاسې سره د نړیوالې ورورولی پر بیناد مرسته کوو.

څرنګه چې د دغو ایزمونو (کاپیتالیزم، سوشلیزم، ...) او کراسیو (ډموکراسي، تیوکراسي، ...) پیدایښت په غربي هیوادونو کې سوي دی نو زموږ روشنفکرانو ته ویل کیږي چې تر هغو یو څوک نه مترقي کیږي چې د دغه ایزم یا

کراسۍ وطن ترخپل وطن ښه او د دغه ایزم یا کراسي خلک د خپل وطن تر خلکو، تر خپل ورور او د تره تر زوی محترم ونه بولي او که ضرورت سي خپله وینه به د دغې نړیوالې ورولۍ د ساتلو او خدمت لپاره ورکوي. موږ چې ستاسې وطن ته درځو په همدې منظور درځو. کوم خک چې وایي دا زما وطن دی، پردي دي یې نه خوري، ناپوه دي. موږ پردي نه یو. کوم خلک چې موږ پردي بولي، له انسانیته پردي او ستاسې دښمنان دي، اشرار دي، تروریستان دي او د بشر دښمنان دي. دوی باید محوه سي که څه هم ستا ورور وي. تاسې ګورئ چې زموږ ورونه او زامن ستاسې په هیواد کې چې زموږ او ستاسې ګټې په کښې شریکې دي د همدې اشرارو او تروریستانو په خلاف د نړیوالې ذمه وارۍ د تحفظ او ستاسې د امن او هوساینې لپاره جنګیږي. که څه هم موږ پر تاسې احسان نه کوو خو تاسې باید زموږ شکرګزار یاست چې خپل اولاد او

د تندي په خولو پیدا سوې پیسې ستاسې په خدمت کې ږدو.

په دې ډول استعماري دولتونه لومړی د وروسته پاتې هیوادونو تعلیمیافته استحماروي، بیا یې د دوی په ذریعه هیوادونه وراستثماروي او ورپسې یې استعماروی. دوی لومړی د وروسته پاتې هیوادونو د تعلیمیافته طبقې له فکره دا خبره باسي چې هر پردی خپلې ګټې ته راځي او دا وطن زموږ کور دی؛ موږ یې مالکان او د آبادولو ذمه وار یو. که د وطن تعلیمیافته په دې خبره اتفاق شي چې هر پردی پردی او خپلې ګټې ګوري بیا خو به دوی سره کښیني او د پردي د تجاوز مخه به په ګډه ونیسي. یو او بل به نه سره وژني. مشکل دلته پیدا کیږي چې په ورونو کې یو ووايي چې دغه متجاوز طاقت اصلا پردی او متجاوز نه دی بلکې هغه زما تر ورور ماته رانژدې دی. دلته بیا یو ورور تیار وي چې خپل بل ورور د پردي لپاره مړ کړي. دا هغه څه دي چې پردي او استعمارګران یې غواړي.

زه د خلقیانو په کمونستي نظام کې د مسلمانۍ او په غرب کې د علم د تحصیل په جرم کابل کي سیاسي بندي وم. موږ ته یې دشپې دوه ساعته تلویزون ایښود چې ددولت په انقلابي اجراأتو مو خبر کړي. د حفیظ الله امین د حکومت په دور کی (۱۹۷۹) یوه شپه تلویزون دهغې ورځې مارش وښود چې په هغه کې د انقلابي دولت د اطلاعاتو او فرهنګ وزیر ولاړ دی او پخپل خاص انقلابی انداز کی وایي: «موږ هوډ کړی دی چې د چیلي د کارګرانو انتقام به د افغانستان له فیوډالانو اخلو». پر شاوخوا ورټولو خلقیانو نارې کړې چې هورا، اخلو یې. ما د دغه صحنې په لیدو خپل سر په دواړو لاسونو کې ونیو او ومې ویل استغفرالله؛ فضل کوې خدایه! زما څنګ ته ناست یو ځوان چې منیر نومیدی او د کابل وو او د وزیرصاحب په خبرو چنداني پوه سوی هم نه وو، وارخطا سو او وې ویل چې ولې صاحب؟ هغه فکر کاوه چې ماته ګنې یودم کوم شدید سردرد پیدا سو؟ ما ورته وویل چې ه زه

جوړ یم خو د دغه وزیرصاحب خبرو سخت وویرولم؛ د دې پایلې ډیرې خطرناکې دي. که څوک له دغه وزیرصاحب څخه وپوښتي چې ته د چیلي هیواد څلور خواوې راته ووایه، په یقین نه یې سي ویلای خو څرنګه چې څو میاشتې مخکې هلته د جنرال پینوشي له خوا کمونیست حکومت نسکور او کمونستان وژل سوی دی؛ دا وزیر صاحب او د ده ملګري د دنیا په هغه بل مخکې د وژل شویو مجهولو کمونستانو په بدل کې دلته اوس خپل وروڼه او د تره زامن بغیرحق او بې له کومې ګناه وژني. داده د استعمار کامیابه نقشه چې د مستعمره هیواد د روشنفکرانو مغز داسې ور مسموم کړي چې د استعمارګر په لاس کې بیروحه کوتک سي او خپل ورور د هغه د خوشحالولو لپاره بغیرحق د پردي مجهول مقتول پښنو ته په فخر حلالوي.

زموږ د اکثرو روشنفکرانو بل مشکل دا دی چې هغوی پر خپل ځان شک لري چې آیا رښتیا د کور مالکان دي؟ دغه سبب دی چې اکثره یې وایي

چې موږ بې له خارجي مرستې خپل هیواد نه شو آبادولای؛ زموږ په وس څه نه دي پوره؛ موږ څوک نه یواو په موږ څه نه ده جوړه. دوی وایي راسئ موږ یوارې خارجیانو ته موقع ورکړو چې موږ جوړ او قوی کړي؛ د سیالانو مو سیال کړي نو بیا به ورته ووایو چې ځئ په مخه مو ښه. که نه وتل په زور به یې وباسو، دا ځکه موږ به قوی شوي او له سیالانو سره به سیال شوي یو. زموږ روشنفکران نه پوهیږي چې دغه منطق په خپل ذات کې څومره تناقضات لري. دا څنګه کیدای شي چې ته اوس هیڅوک نه یې؛ بل به دي څوک کوي او دومره به دي قوي کوي چې که تا ورته وویل چې ځه، هغه به ځي؛ او که نه تلی په زور به یې وباسې او هغه به بیا څه نه شي کولای، دا کوم منطق دی؟!

استعمارګر، اول زموږ روشنفکران له شخصیت، خودۍ او عزت النفس څخه خلاصوي، خپل ملي هویت، تاریخ او ټولنیز ارزښتونه ورته بې معنی ښیي. کله چې یې مغز له خپل فرهنګ، خودي، د کور

د مالکیت د احساس، عزت النفس او معنوي ارزښتونو ورخالي کړ بیا یې نو د خپلې ټولنې زرق وبرق په مغزوکې ورځایوي. وروسته په خپلو جادوګرو تعلیماتو داسې ورښیي چې ستاسې ټولنه د اروپا د منځنیو پیړیو د پاپانو د وخت ټولنه ده او د هغې د اصلاح لپاره ګویا تاسې روشنفکران باید د روسو، بیکن، دکارت، کانت، لاپلاس، هوګو، مونستکیو، کوپرنیکس، ولتر، نیوټن، دیدرو، دالامبر، هولباخ او ګالیلې کردار ادا کړئ. استعمارګر، په دغو روشنفکرانو د خپل وطن مشران، عالمان او پوهان تحقیر او توهینوي، منزوي کوي او بندیانوي یې او حتی وژني یې چې په دې بهانه هیواد له سرېو او مفکرینو خالي کړي چې دا مرتجعین، مضر، اشرار، تروریستان او د پرمختګ د لارې خنډ دي. دغه په اصطلاح روشنفکره او د استعمار له خوا پمپ کړل شوې طبقه، د نورو په هدایت د خپلې ټولنې بنیادونه تخریبوي او پر ځای یې پردي ارزښتونه کښېنوي. استعمار، زموږ

روشنفکران داسې عیاروي چې د وطن هرشی بد او د دوی هرشی ښه وګڼي. په 1965 کې زه د کابل په پوهنتون کې محصل وم او د پوهنتون په مرکزي لیلیه کې اوسیدم. موږ ته یې د ډوډۍ خوړلو لپاره قاشق پنجې راکړې وې. زما د کوټې یو ملګری کمونیزم ته معتقد وو، هغه په روسۍ قاشق پنجه ډوډۍ خوړله. که څه هم روسۍ قاشق پنجې موږ ته تر راکړل سویو قاشق پنجو په جنسیت کې ډیرې ټیټې وې او په لږ فشار کږیدې خو زما کمونیست ملګري به ویل چې زه په روسۍ قاشق پنجه ډوډۍ خوړل فخر ګڼم. داځکه چې دا د نړۍ د کارګرانو په مور هیواد (روسیه کبیر او مهد انقلاب خلق) کې د نړۍ د زیارکښانو په لاس جوړې شوې دي. پر هغه ترخپل وطن روسیه ډیره ګرانه وه. په دې ډول زموږ روشنفکران پرخپل ځان بې باوره دي او کار یې د خپلې ټولنې سپکاوی او د نورو ستاینه، خپل ځان د هغو پشان ښوودل او بالآخره پرخپل وطن د پردیو تسلط ته لاره هوارول دي.

استعمار لومړی د وروسته پاتې هیوادونو تعلیمافته او لوستې طبقه د ذهن او شخصیت په لحاظ د دې لپاره کوچنی، کوي چې داسې احساس پکښې پیدا کړي چې دوی بې وسه دي او څه نه دي پرې جوړ او بې د نورو له مرستې څه نه شي کولای. زموږ روشنفکره چې له یوې خوا ګوري چې هري خواته مشکلات دي، انحطاط دی او د ټولنی په ډیرو ساحو کی وروسته پاته والی دی، او له بلی خواخپله هم د ملت په فکري او فرهنګي اډانه کي ځان ته ځای نه ګوري نو د غربي هیوادونو د مستشرقینو په اقتفاء وایي چې موږ تراوسه ملت سوی نه یو. د دی لپاره چی ملت سو او متمدن سو نو د څه وخت لپاره د غرب تسلط راباندي ضرور دی. کرار کرار استعمار د اکثرو هغو تحصیلکرده کسانو احساس هم چې د پردیو ګوډاګیان نه دي په پاخه یقین بدلوي چې دوی څوک نه دي؛ چې شاوخوا وګوري ځان په هیڅ کې حسابوي او فکر کوي چې د بهرني قوت له هر اړخیز تسلط سره عملا څه نه سي کیدای او دا د ژوند

مسلط واقعیت دی چې باید قبول سي. ځینې خو لا داهم وایې چې د بهرنیانو حضور زموږ په هیواد کې ضرور دی؛ که دوی ووزي موږ به سره وخورو. څرنګه چې بهرنیان د یو هیواد ملي اقتصاد فلج او پر نورو یې متکي کوي نو روشنفکران مو نه یوازې دا وایي چې که خارجیان ووزي موږ به سره وخورو بلکې دا هم وایي چې که دوی ولاړ شي موږ به څه خورو؟ تیره اونۍ زما یو پخواني د پوهنتون د وخت همصنفي چې له امریکا راغلی دی د شپې کابل کی میلمه کړم. هلته یې تقریبا دولس کسه د پوهنتون استادان او د دولت عالي رتبه مامورین چې ځینې یې ما له پخوا پیژندل هم رابللي وو. له ما سره دوه تنه د خصوصي متوسط تعلیم خاوندان هم د کوربه په اجازه دغه میلمستیا ته تللي وو. زما مخامخ د دولت یو وزیر چې د غرب تعلیافته وو، ناست وو. څنګ ته یې د یو بل وزارت معین ناست وو. د وطن پر حالاتو بحث وو. چا د خارجي قابضو قواوو له زور زیاتي شکایت کاوه؛ چا د دولت له بې کفایتۍ ګیله درلوده؛ چا د دولت په

دستګاه کې د عام فساد له کبله سر ټکاوه او چا څه ویل او چا څه. ما و مجلس ته وړاندیز وکړ چې راسئ وزیرصاحب ته غوږ ونیسو چې د دغو مشکلاتو حل په څه کې ګوري؟ دا ځکه دی د راز ښتن دی او عملا په دولت کې هره ورځ له داسې مسائلو سره مخ دی. وزیرصاحب لومړی خپله غاړه تازه کړه او سم سره کښینستی لکه یوې ښې اوږدې بیانیې ورکولوته چې یې ځان جوړاوه. موږ ته یې د یو خواخوږي او کارپوه په ډول چې ګویا پر وطن او د خپلو خلکو پر ناپوهی یې زړه سوځیده، وویل: «زموږ غټ مشکل زموږ بې ځایه غرور دی. موږ هغه وخت په ژوند کې بریالي کیدای سو چې له غروره راکښته سو او د ژوند واقعیتونو ته تسلیم سو. دا غرور چې موږ یو ځوک یو؛ زموږ پلار او نیکه یو ځوک وه او موږ داسې کارنامې کړي دي او دا مو کړي دي او ها مو کړي دي، په درد نه خوري. همدې غرور موږ خراب کړي یو. موږ باید ومنو چې که پرون موږ ځوک وو، چې پرهغه هم زه شک لرم، خو اوس

یقینا څوک نه یو. اوس زموږ هیڅ نه دي په وس پوره او په موږ هیڅ نه ده جوړه. پریږدئ چې دغه خارجیان چې زموږ هیواد ته راغلي دي موږ ته کار وکړي، موږ سم کړي او هغسې مو جوړ کړي چې د تمدن له کاروان سره سم سو. کله چې موږ سم او د دنیا له خلکو سره سیال شولو بیا به خارجیانو ته ووایو چې اوس مو نو په مخه ښه. هغه وخت به دوی ځي او موږ به یو څوک یو او دښمنان به مو نه سي خرابولای. .....».
په مجلس کې د پوهنتون استادانو د وزیرصاحب له خبرو سره د تائید سر ښوراوه او دایې ښوول چې موږ رشتیا څه نه شو کولای، خارجیانو ته موقع باید ورکړو چې له موږ څخه یو څه جوړ کړي نو بیا که مو ورته ویل چې ولاړ شي، ځي به. له ما سره راغلي یوه ملګري له وزیرصاحب څخه سؤال وکړ چې خارجیان د خپلو ګټو لپاره راغلي دي او که زموږ د ګټو لپاره؟
وزیرصاحب ورته وویل چې خارجیان به خپلې ګټې لري خو زموږ ګټې دلته د دوی تر ګټو ډېرې دي. موږ څه لرو چې دوی یې راڅخه یوسي؟ دوی موږ ته هومره

اړ نه دي لکه موږ چې دوی ته اړ یو. زما ملګري بېرته ورغبرګه کړه چې که موږ ورته اړ یو، موږ به په دوی پسې ورغلي وای او عذر به مو ورته کړی وای چې لطفا راسئ له موږ سره مرسته وکړئ؛ دوی خو زموږ بې غوښتنې په زور راغلي دي. وزیرصاحب وویل دا دنیا اوس یو کلی دی. له هغوی څخه ستا غریبي پټه نه ده او د بشري خواخوږۍ احساس یې ځوروي. البته، خپلې ګټې هم په ضمن کې ورسره لري. زما بل ملګري مجلس مخاطب کړ چې جناب وزیرصاحب وايي چې د امریکا په مشرۍ غرب باید موږ داسې جوړ کړي چې بیا مو دښمنان خراب نه کړای سي؛ له موږ څخه اوس دښمن ورک دی چې زموږ دښمن څوک دی؟ دلته وزیرصاحب جدي سو او وې ویل « زموږ مشکل هم دغه دی چې د دوست او دښمن فرق نه سو کولای. هغه چې له لیرې ماوراء بحاره راځي او موږ ته د دوستۍ لاس راکوي او د خپلو بچیانو د تندي په خولو ګټلې په ملیاردونو ډالره راوړي او زموږ د آبادیدو لپاره یې مصرفوي، بیا هم موږ د دوی پر

دوستی شک کوو». مجلس کې ډېرو روشنفکرانو څه نه ویل خو ځینو یې په پټه خوله د وزیرصاحب سره د توافق سر ښوراوه. د دغه روشنفکره وزیرصاحب د کلام لب لباب دا وو چې موږ هیڅ یو او په فعلي شرایطو کې په موږ هیڅ نه ده جوړه. موږ باید د امریکا په مشرۍ غرب ته موقع ورکړو چې موږ جوړ او له سیاله سره مو سیال کړي. خو دا خبره یې تر پایه ذهن ته وانه چوله چې که غرب مو جوړوي نو په خپل طبیعت او نقشه به مو جوړوي، نه زموږ د ګټو مطابق.

استعمار د خپل تبلیغ، زر او زور، مادي او معنوي وسایلو په ذریعه د وروسته پاتې هیوادونو په روشنفکرانو کې د خودۍ احساس دومره کمزوری کوي چې بالآخره د ماشوم حالت اختیار کړي چې ټول پر ولی النعمة متکي وي. که بې موره ماشوم له میرې څخه خوابدی سي او حتی که یې ووهی هم؛ هغه ژاړي او شاوخوا ګوري چې چاته پناه یوسي. بې له میرې څوک نهویني؛ مجبور سي همغه چاته پناه وړي او په

غیر کې یې ورلوېږي چې ترټلی او وهلی یې وي. داځکه ماشوم ځان بې وسه او له هرې خوا جراحت پذیره احساسوي او په خپله ټوله نړۍ کې بل د غور او پناه ځای نه ګوري. استعمار هم همداسې حالات د مستعمره هیواد پر خلکو ، خصوصا ، پر روشنفکرانو راولي؛ خودي، شخصیت، ملي غرور، په تاریخ افتخار او ځان ته د یوڅوک ویلو احساس ځینې اخلي او په ځان یې متکي کوي. دا روشنفکران د خپلو خلکو حتی د پلار په لباس او خبرو شرمیږي. یو ژیګیلو ، بې سویې ځوان چې اوږې غورځوي، کچل پر لارې ځي او په خبرو کې یوه نیمه خارجي کلمه چې هغه هم په غلطه استعمالوي، د خپل کلي تر دیني عالم خوښوي؛ د یوه غربي شرابي او چرسي ټوریست سره لیدنه خوند ورکوي، نه د خپل وطن له یو مجرب ښوونکي سره؛ په وطن کې به له پلار سره په پټي کې کار کول او د مشر ورور سره دکانداري ورته عیب ښکاري او په شرمیږي به، خو کله چې غرب ته د تلو چانس ورته میسر سي نو هلته به د خوګانو او سپیانو

پاکول او پریولل په فخر کوي. پر دوی د غرب د زرق و برق دومره جادو سوی وي چې دلته هم او هلته هم د پردیو له خدمته لذت وړي او توهین یې په اعزاز تعبیروي.

استعمار تلاش کوي چې د وروسته پاتې هیوادونو تحصیلکرده یا ددوی په اصطلاح روشنفکران او حتی په ملي سطحه منظمې اداري لکه پارلمان په فرعي مسائلو او خیالي شعارونو مصروف کړي چې له اصلي موضوعاتو څخه یې چې د دوی ښکیلاک، زبېښاک، استحصال، استعمار او استحمار دي، لیرې وساتي. استعمار د آزادۍ په نوم کورنۍ جګړې او بې اتفاقي او فکري تشتت او فتنې جوړوي، اقلیتونه هڅوي او د هغوی د تقویې له لارې وطن پر قومي، ژبنیو او مذهبي خطونو تجزیې ته برابروي، د مخدره موادو تولید او قاچاق تقویه کوي، ملي اقتصاد له پښو غورځوي، د ښځو د حقونو په نوم کورنۍ اړیکي او ټولنیز نظم اخلالوي او فحاشي و انارشي تقویه کوي، د فرد د آزادۍ په

نوم د وطن آزادي سلبوي او د معتدل اسلام په نوم واقعي اسلام کی زهر ګډوي او داسي یو بیداره او پوه مسلمان ته حتی د تنفس اجازه نه ورکوي چې ولس په استعماري عزایمو پوهوي او خلک استقلال، عزت النفس او خودی ته وربولي. تاسې وګورئ! هغه فرانسې چی ځان یې د عصري تمدن مور، د ډموکراسۍ او انقلابي افکارو زانګو بلله او د ورځي په سوونو اخبارونه په کی چاپیدل، د یوه مهاجر او بې کوره مسلمان (سیدجمال الدین افغان) د حق خبره ونشو زغملای. او د هغه اخبار (عروة الوثقی) یی له شپږ ګڼو زیات خپریدو ته پرینښود. انګلیسانو په برتانوي هند کی له کابل څخه خپریدونکې مجله (حی علی الفلاح)په هندوستان کي له لوستلو منع کړې وه. همدا اوس په یوویشتمه پیړۍ کي د امریکا په زندانونو (ګوانتانامو، باګرام، کندهار، ابوغریب، ...) کي په لسهاوو زره افغانان او نور مسلمانان بې له محکمې او رسمی تور څخه، صرف په شک، تر لس کاله ډیر بې سرنوشته پراته دي

چې نه د وکیل د درلودلو اجازه ورته شته او نه له خپلو خپلوانو سره د لیدلو او تماس. امریکا د دموکراسۍ په نوم پر افغانستان له ۲۰۰۱ میلادي څخه تراوسه د وسلو او پیسو په زور غله، قاچاقبران، جنګسالاران او د بشر د حقوقو ناقضین حاکمان ساتلی دي او افغان مظلوم ملت په چوروي، بیعزته او ټکوي. د بشري حقوق په نوم قومی تنفر پیدا او تقویه کوي او ملی وحدت تخریبوي.

زموږ د روشنفکرانو غټه خطا او له خپل ولس سره لویه جفا داوه او ده چې دوی هغه دین (اسلام) ته چې خلک علم او تفکر ته وربولي او د انسان شرافت په مال او نسب نه، بلکې په علم او ادب پورې تړلی ګڼي، د پاپانو د دین او آئین په نظر ګوري. هغه نظام چې د پیغمبر (ص) د آکا زوی او زوم او د وخت ولسمشر- امیرالمؤمنین علي إبن أبي طالب رضی الله عنه - د خپل خلافت په دوران کې د یوه عادي یهودي سره قاضي ته د قضاوت لپاره په محکمه کې دروي، د پاپانو د نظام سره برابرول زموږ

د روشنفکرانو بله جفا ده. داسې يوه دين او د دولت دغسې مشرانو ته چې د خپلې يوې جوړې جامې د ټوکر حساب ولس ته ورکوي، د اروپا د منځنيو پيړيو د خودکامه پاپانو او اشرافو په نظر کتل، دغسې يو عادل نظام ته د پاپانو د ظالم نظام په سترګه کتل، د بيان او نقد دغسې آزادۍ ته د منځنيو پيړيو د سياسي او ټولنيز اختناق چنګکونه اچول او هغه ردول له انصافه ليرې قضاوت او بې لاري ده.

که په اروپا کې روشنفکرانو دين خوشې کړ، نو ځان او ولس ته يې له بدبختيه نجات ورکړ، له غلاميه آزاد سول او په ربښتيا مترقي او متمدن سول؛ داځکه هلته دين د تمدن او پرمختګ ضد وو. خو دلته، زموږ روشنفکرانو د دين په ضديت او د خپلو پلرونو پر ږيرو په خندلو سره ځانونه او خپل ولسونه بدبخت، تباه او د نورو غلامان کړل. هلته دين د ذلت سبب وو؛ روشنفکرانو خوشې کړ او سرلوړي سول خو دلته چې دين د استقلال، ترقۍ او عزت سبب دی، په خوشي کولو سره يې زموږ

روشنفکرانو ځانونو او قوم ته ذلت راووړ او په لوی لاس یې بدبخت او د نورو مریان کړل. دا باید ومنو چې ټولنیزې تجربې د طبیعي علومو تجربې نه دي چې په هرځای کې یو ډول دي. دا حتمي نه ده چې یوه ټولنیزه نسخه چې یوځای ګټوره ثابته سوې وي، بل ځای دې هم حتما ښه نتیجه ورکړي. په اروپا کې ملت پرستي یا نشنلزم ښه نتیجه ورکړې وه. روشنفکرانو د پاپانو او ظالمو حاکمانو د تسلط د کمولو په منظور د نشنلزم له حربې څخه کار واخیست او قومونه یې وهڅول چې ځان ته آزادي، خپله ژبه او فرهنګ ولري. خو په شرق کې په همغه نسخې، غربیانو د اسلامي هیوادونو د روشنفکرانو په دلالۍ، عثماني امپراتوري چې د اروپا زیاته برخه یې نیولې وه، تجزیه کړه او عالم اسلام یې منحیث کل ذلیل او خپل غلام کړ. عثماني امپراتوري غربي نړۍ ته یو لوی ګواښ او د مسلمانانو د قوت مظهر وو. که څه هم په اخیر کې دغه خلافت په ملوکیت بدل شوی او دربار یې ډیر فاسد سوی وو، خو بیا هم پر

غرب یې رعب پروت وو. تر لومړي نړیوال جنګ وروسته چې عثماني امپراتوري کمزورې شوې وه، غرب وپتېیله چې هغه تجزیه او د ابد لپاره یې له غمه ځان خلاص کړي. د نورو کارونو څنګ ته، اروپایانو د عربو نشنلیزم وپاراوه. دوی پوهیدل چې اسلام د مسلمانانو د وحدت رمز او د استقلال او قوت ضامن دی او تر هغو یې نه شي مستعمره کولای چې دا قوه (اسلام) په دوی کې نه وي ځپل سوې. نو کوښښ یې وکړ چې د دغه رمز د کمزوري کولو لپاره د نشنلزم له وسلې څخه کار واخلي. د عربو روشنفکرانو ته یې دا خبره په خوله کې ورکړه چې عربان تر اسلام دمخه هم عرب وه او که خلک اوس بل دین قبول کړي هم به عرب وي؛ قومیت اصل او ثابت دی او مذهبونه ځي او راځي. ترکان څوک دي چې د اسلام په نوم پر تاسې حکومت کوي او تاسې استثماروي؟ تاسې خو خپله ژبه، فرهنګ او قوم لرئ؛ پردي ترکان حکومت او ظلم درباندې کوي؛ د وطن حب دایمان جزء دی، ودرېږئ او د خپل وطن، قوم او غني تاریخ څخه دفاع

وکړئ. ستاسې د نجات لار نشنلزم دی او موږ په دې لار کې مرسته درسره کوو. دا وخت، عربان د ترکانو په خلاف د انګریزانو او نورو غربیانو په تحریک او مرسته راپورته شول او ترکان یې له عربی هیوادونو څخه وایستل. کله چې عربان د عثماني خلافت له ملاتړه خلاص شول او د دین په جذبه نور نه سوای راټولیدای، نو انګریزانو او نورو غربی هیوادونو پر دغو کمزور، یوازې پاتې او تیت و پرک عربو ور ودانګل او خپله یې قبضه کړل. ټول یې له عراق څخه تر مراکش او موریتانیا پوري ونیول. دا وخت چې به چا د وطن، قوم، ژبې او نشنلزم نوم واخیست چې موږ خو د دې لپاره ترکان پسې وانه خیستل چې غربیان مو ونیسي، بلکې غوښتل مو چې خپل وطن پخپله اداره کړو، نو د غرب رانیول شویو او برینواش شویو په اصطلاح روشنفکرانو به د پردیو په هدایت ورته ویل چې د قوم، وطن، ملت او نشنلزم خبرې کفر دی، په اسلام کې قومیت نشته – اسلام سرحد نه لري – مسیحیان هم اهل کتاب دي.

دلته غربیانو د تصوف تقویه کول پیل کړل چې په کونج کې کښېنه، شپه او ورځ عبادت کوه، خو په سیاست کې فکر مه کوه او له دولت سره غرض مه لره. په دې ډول غربي استعمارګرو د خپلو استعماري موخو لپاره عرب روشنفکران په یوه صحنه کې ځو واره ښخپله ګټه ولوبول. هلته په اروپا کې روشنفکرانو د خپلې ټولنې ناروغي تشخیص او په علاج پسې یې متې ونغاړلې. په دغه لار کې مخکښ سول او قربانۍ یې ورکړې. دلته زموږ روشنفکرانو د خپلې ټولنې ناروغي او د هغې عوامل د خپلې ټولنې له فرهنګي جوړښت څخه د بې خبرۍ او بې علمۍ په وجه تشخیص نه کړای سوای، بلکې نورو ورته وویل چې ستاسو ټولنه دغه ناروغي لري او د علاج لپاره یې دغه نسخه ده. دغو بهرنیو نسخو د بهرنیانو په ګټه کار ورکړ او روشنفکرانو خپل ځانونه او خپلې ټولنې له تباهۍ سره مخ کړې.

په افغانستان کې امیر حبیب الله خان (۱۹۰۱ - ۱۹۱۹) د عصري علومو ښوونځي د بهرنیو

استادانو په مرسته فعال کړل او دهغه زوی شاه امان الله هغو ته وده ورکړه. دوی ښوونځي د جوماتونو او ديني مدرسو سره په همږغۍ جوړ نه کړل، بلکې د غرب په اقتفاء داسې تصور خپور او تقويه سو چې دين د ترقۍ خلاف دی. د عصري ښوونځي شاګردان يې اول په لباس او بيا په طرز تفکر له خپلې ټولنې څخه بېل کړل. د ښوونځيو په شاګردانو اروپايي جامې واغوستل سوې او د دين علماوو ته يې احترام نه کاوه. شاه امان الله نه يوازې خپله، د دولت په مامورينو او حتی د ښار په ګاډيوانانو هم تورې دريشۍ واغوستې او شپوګانې يې ور په سر کړې؛ خلک يې د شپو په سلام اچولو او په اوړي کې په نيکر کې ګرځيدلو ته هڅول. د دين ځينې صريح احکام يې بې ځايه وبلل؛ د ده ښځې (ملکه ثريا ) په عام محضر کې چادري وسوځوله او په خارجي سفرونو کې لوڅ سر، خلاص ګرېوان، لوڅ مړوندونه او لوڅ لينګي له پرديوسره کنښېنسته چې ۹۰ کاله وروسته يې د افغانستان ولسمشر اوس هم د کولو

جرائت نه لري. د ترقۍ او تمدن په نوم د ديني علماوو پر ضد تحريکات وشول. زموږ پر بې وزله ملايانو چې د نورو ټوک، زکات او خيرات ته ناست وه، د هغو پاپانو خيال وشو او پر ضد يې داسې توهين آميزه مبارزه وشوه، د کومو پاپانو پر ضد چې په منځنييو پيړيو کې په اروپا کې کيده. حکومت او واک د همدغو روشنفکرانو په لاس کې وو چې په ملايانو پسې يې را اخيستې وه. ملايانو بې له ټاپې لګولو بل څه نه درلودل. پر روشنفکرانو يې د بې دينۍ ټاپه ولګوله چې په نتيجه کې يې ټولو بايلوده؛ هم ملايانو بايلوده هم روشنفکرانو. په ۱۳۳۷ لمريز کال کې همدا د شاه امان الله د وخت پروګرامونه په کندهار کې د نايب الحکومة محمد صديق خان وزيري له خوا چې ځان يې روشنفکر او د امان الله خان د لارې پالونکی باله عملي شول. زما په ياد دي چې د خلکو ښځې په زوره له کورو را وايستل سوې او حتی په ګاډيوانانو هم دريشۍ واغوستل سوې. د تمدن او پرمختګ په نوم ډير احمقانه کارونه وسول.

د کندهار خلک راپورته سول او بلوا یې وکړه. له هره اړخه ډېر تاوان ورسید – هم نارینو ته، هم ښځو او هم علم ته.

د ثلوبښت کالو پخوا خبره ده. په کندهار کې زما له خپلوانو څخه یوه ځوان د کابل په پوهنتون کې د کابل له یوې فارسي ژبې نجلۍ سره واده وکړ. له پوهنتونه تر فراغت وروسته دواړه په کابل کې استادان سول. ځوان د خارج تحصیلي بورس واخیست او ښځه او کوچنیان یې په کندهار کې خپل پلار ته راوستل چې ویې ساتي. ښځه یې ولاړه د ښار په یوه لیسه کې یې معلمي ونیوله. د ځوان پلرګنۍ د کندهار د ښار یوه محترمه او دینداره کورنۍ وه چې د کندهار په ښار کې دننه اوسیدل. د ځوان ښځه چې به هره ورځ سهار له کوره لوڅ مخ، لوڅ سر او لوڅ لینګي وتله، خسر او د کورنۍ نور حاجي صاحبان به تربرونو ته له خجالته نیم نه پاتیدل. خسر او د کور نورو مشرانو به چې هرڅه معلمې صاحبې ته وویل چې په کور کې کښینه، دغه معاش به موږ درکوو؛ ته

خپل سر ونیم سر کوچنیان چې اوس یې ستا خوابښې او ندروراني درساتي خپله سمبالوه. خو روشنفکرې معلمې صاحبې به ژړل چې ما تعلیم د دې لپاره نه دی کړی چې په کور کې اولادونو ته کښینم. هغو به عذر ورته وکړ چې بهر وزې نو لطفا پوړنی پر سر او لینګي دې پټ کړه. روشنفکرې به وژړل چې خدای وهلي میړه زه راوستم او د قرون وسطی په شرایطو کې یې دلته وغورځولم او خپله ولاړ. د ځوان پلرګنۍ ته غیرت دریدی چې دا د بل قوم او بلې ژبې ښځه او زموږ ناوې د زوی په غیاب کې څنګه له کوره وباسو او یا یې په زوره په کور کې کښینوو. له ډیرو ورځو څخه د یوې ورځې کیسه درته کوم چې باران سوی وو او د ښار دکوڅو ختې یې ښې سریښناکه کړې وې. معلمه صاحبه له کوره د مکتب په نیت راووته. څه لار تللې وه چې یو بوټ یې ختو ځینی ونیو او خالی لوڅه پښه یې په ختو ولاړه. بوټ یې له ختو راوایست او په لاس کې یې نیولی روانه سوه. څو قدمه یې لا نه وه اخیستی چې بل بوټ یې هم له پښې وخوت. هغه یې

هم له ختهو را ویوست او په دابل لاس کې یې ونیو. دا روشنفکره د کندهار د عنعنوي او مذهبي ښار په اوږدو او بیروبار کوڅو کې په ختهو لړلې بوټونه په لاسونو کې، لوڅ لینګي او لوڅې پښې ژر ژر په ختهو کې د مکتب پر لوري روانه وه. خسر به یې چې کوڅې ته راووت، تربرو به ځان پر برابراوه چې لورکۍ مو ولیده، شکر چې په ختهو کې نه ده لویدلې، بوټونه بلا پسې، رنګ به یې کړي. چې خسر او لیورونه یې چا په چاړه وهلي وای وینه به یې نه وای کړې. د داسې روشنفکرې ښځې په لیدو بیا چا خپله لور مکتب ته استوله؟ آیا دغو حکومتونو او روشنفکرانو پخپلو دغسې کړو علم، ټولنې او ښځو ته خدمت وکړ او که یې ضربه ورکړه؟ په اروپا کې روشنفکرانو د ولس د خدمت په لار کې مرګ ته ځانونه ورکول، خو دلته زموږ روشنفکره (؟) ښځه پرتوګ آغوستلو ته حاضره نه ده.

تیر وختونه پریږدئ؛ همدا اوس تاسې خپل احوال او ماحول ته ښه سوچ وکړئ. د یو وزیر یا بل

مشر ذلت به ترديې چيرې وي چې د ولس د خدمت له لافو سره سره يې عام سړک بند کړی وي او له ډاره يا د حقارت د احساس له عقدې په څو همشکله او همرنګه مرمۍ ضد موټرانو کې چې هغه هم پردو ورکړي دي پر کنډ وکپر سړکانو چپه زغلي او قوم يې په نس وږی او پښې لوڅې تماشا کوي. داسې وزير او مشر ته به څوک څنګه روشنفکر ووايي؟ آيا دا ډول کس ته د روشنفکر لقب خپل ولس ورکړی دی؟

په تيره يوه پيړۍ کې، متأسفانه، زموږ اکثره روشنفکران د خپل مظلوم او غريب قوم په خلاف د استعمار ملګري سوي دي او د پرديو اجنډا ته يې کار کړی دی، دهغوی لپاره يې ليکنې کړې او کتابونه يې ورته جوړ کړي دي، احساساتي او انقلابي شعرونه يې ورته ويلي او ليکلي او د پرديو لپاره يې زغستلي دي. دا ډول ليکوالان، شاعران، پوهان او انقلابيان هرڅه چې وو، وو به، خو ملي، ولسي او وطندوست خلک نه وو. دا ځکه چې دوی د بل په خدمت کې وو؛ د نورو بلبلان وو او د خپل ملت

او ولس په خدمت کی نه وو. دوی خپل استعداد د پردیو په خدمت کې کارولی دی. دا ډول روشنفکرانو د خپل ولس د پښې اوبه د استعمار ژرندې ته په لکه غاړه بیولې او د پردیو د استعمار لولۍ یې په سره ډولۍ کې خپل چوک یادګار ته په فخر وړل غوښتي دي. تاریخ ښوولې ده چې زموږ عوام زموږ تر اکثرو روشنفکرانو ډیر سیاسي بصیرت لري. هروخت چې زموږ پر هیواد پردیو حمله کړې ده، زموږ عوام په نره ورته دریدلي او ورسره جنګیدلي دي. خو له بده مرغه ډیر روشنفکران د استعمار ملګري سوي دي چې باید نه وای سوي. د عوامو ساده استدلال تل دا دی چې پردي موږ ته دخدای (ج)لپاره نه راځي؛ حتما یو هدف لري. نوځکه یې موږ باید پښنو ټینګولوته پرینږدو. خو روشنفکرانو ورته ویلي دي چې موږ څه لرو چې راڅخه وایي خلي؟ عوام ورته وایي چې موږ نه پوهیږو، حتمي په موږ کې څه سته چې موږ یې نه وینو او دوی یې ویني او پسې راغلي دي. که نه نو ولي راتله؟ که نورڅه نه وي، دین مو راڅخه وړي. خو

ځرنګه چې زموږ ځینې روشنفکران معنوي دارایي لکه دین، عزت النفس او خودي نه لري چې نور یې ځینی یوسي، نو استدلال کوي چې تاسي نه پوهیږئ، بیسواده یاست او د دنیا له سیاسته ناخبره یئ؛ هغوی د انسانیت په خاطر دلته راغلي دي؛ زموږ پر غریبۍ یې زړه سوځي؛ کور، کالي ډوډۍ راکوي؛ ډیموکراسي، عدالت، د قانون حاکمیت، او... راته راوړي، د نورو له مداخلو مو ساتي او ژوند مو سموي. د دوی موجودیت دلته په خیر دی. موږ باید د دوی له حضوره اعظمي استفاده وکړو او داسې نور ډول ډول استدلالونه کوي. زموږ ځینې روشنفکران خپلو عوامو ته فریب ورکوي، تخدیروي او استحماروي یې او استعمار ته د هغوی د اهدافو د تحقق لپاره نرم بستر جوړوي. دا ډول روشنفکران چې په حقیقت کې تاریکفکران دي، د واقعي روشنفکرانو د پیداکیدو او غوړیدو مخه نیسي.

دا ډول روشنفکران نه اصولي دي او نه په قوم کی فکري ریښه لري؛ دوی ته خپل ولس چې د

ایمان په برکت یې د نړۍ لویو طاقتونو ته ماته ورکړې ده او افغانستان یې د امپراتوریو په هدیره مشهوره کړې دی، اهمیت نه لري. دوی فقط د قدرت مرعوب او مرغوب دی او په هر رژیم کې د دوی ځای وي. د قدرت د باد سمت او د جاذبې جهت ته ګوري او پرهمهغه خوا لغړي. حکومتونه به تغییر وکړي اوبحرانونه به یو په بل پسې راشي خو په دوی څه نه کیږي. دوی په هر نوي تیاتر کې په نوې ځیره او رول کې ښکاره کیږي او خپل غولوونکی کردار اداء کوي. زموږ دغه روشنفکران پرون د یوه استعماري طاقت ملګري وه او نن د بل. دا ډول کسان د دولت په مهمو کارونو کې وي خو خپله اراده نه لري، مشخصه لار او مذهب نه لري او که کوم کار کوي، حتما د خپل ولي النعمة سترګو ته ګوري. پردي قوتونه اکثره همدا ډول کسان چې اصولي نه وي، عزت النفس یې کمزوره وي او په قوم کې فکري ریښه نه لري قدرت ته رسوي.

اروپا تر میلاد دمخه متمدنه او د علومو مرکز وو؛ پاپانو هغه خواره، منحطه او بیرته پاتې کړه. روشنفکران راپیدا سول، پاپان یې له قدرته وغورځول، علومو ته یې مراجعه وکړه، پخوانی برم یې اعاده کړ او اروپا یې بیرته د ترقۍ پر لوري روانه کړه. په داسې حال کې چې په اسلامي نړۍ کې علوم وو او ترقي وه. مګر، خودکامه حاکمانو او استعمار ګرو د عصري علومو د زده کړې او د دین د ریښتیني فهم مخه ونیوه او زموږ ټولنه یې خواره او له پرمختګه پاتې کړه. په کار وه چې زموږ روشنفکرانو د اروپایې روشنفکرانوله ستراتیجۍ څخه په استفادې (خو د هغه سرچپه)، د اسلام د اصولو په خپلولو سره د استعمار او ظالمو حاکمانو په خلاف قیام کړی وای او هیواد یې له مصیبتونو څخه خلاص او د ترقۍ پر لوري روان کړی وای. اسلام زموږ د ټولنې روح، د خپلواکۍ د ساتنې رمز او د پرمختګ راز وو، خو زموږ روشنفکرانو نه یوازې کار ځینې وانخیست، بلکې د هغه په خلاف یې یا د خپلې بې

توجهې له کبله او یا د نورو په ټونګ اقدامات وکړل. هغوی د غرب لاره په پټو سترګو تعقیب او د استعمار آله او وسیله وګرځیدل، نو ځکه بریالي نه شول، خپله هم بې قدره سول او خپله ټولنه یې نه یوازی له مصیبته خلاصه نه کړه، بلکې د هغې د مزید انحطاط، سرګردانۍ او خوارۍ سبب هم شول.

مسلمانان باید ځانونو کی تغییر راولي؛ دا ځکه چې الله (ج) هغه قوم ته تغییر نه ورکوي چی د ځان تغییر نه غواړي (ان الله لا یغیر ما بقوم حتی یغیروا ما بأنفسهم). که زموږ حال خراب دی، د هغه سبب موږ خپله سوي یو. الله (ج) خپل نعمت پر هغه قوم نه زوالوي چی پخپله یې د زوال اسباب برابر نه کړي (ذالک بأن الله لم یک مغیرا نعمة انعمها علی قوم حتی یغیروا ما بأنغسهم. و ان الله سمیع علیم). د تغییر لپاره اول باید ځان جوړ سي؛ اسلام ته مراجعه وسي، فکر جوړ سي؛ رجعت پسنده ونه اوسي بلکې مخ ته وګوري. مخ ته د بل په سترګو ونه ګوري، بیګانه پرست نه سي، بلکې خلاق واوسي. له خرافي

عنعناتو او اوسنی مسلطو استعماري نقشو څخه باید ځان آزاد کړي. انسان په درو بندیخانو کی بند دی: طبیعت، ټولنه او ځان. د طبیعت زندان د عصري علومو په حصول ماتولای سو. د سالم فکر پر بنیاد او د شخصیت په تکوین (دین) د ټولني زندان ماتیږي او د نفس أماره بالسوء له زندان څخه په تقوی او عشق سره خلاصیدای سو.

که موږ غواړو ژوندي پاته سو نو باید ځان کی خودي او عزت النفس پیدا کړو او خپل ځان ثوک وبولو. دا هغه وخت کیدای سی چی د عزت النفس په نوم، نه دومره مغرور او خودپرست سو چی د ځان په فکر کی جهان راڅخه هیر سي او نه دومره جهاني سو چی خپل دینی او ملي وجایب راڅخه پاته شي. له غرب سره بې ځایه تعصب او د هغه هرڅه ردول خپله بې لاري ده. غرب، انساني تمدن ته ډیر څه ورکړی دي چي موږ یې باید قدر وکړو. تمدن د انسانانو مشترک مال دی؛ لکه اوسنی غربی تمدن چي د مسلمانانو پر بریاوو جوړ او ولاړ دی، داسي

موږ هم له غربی تمدن څخه د خپل تمدن د غني کولو لپاره کار اخیستلای سو. موږ د غرب او د هغه د تمدن مخالف نه یو. په غرب کی انسانان همداسی دي لکه موږ ، او ټول د یو آدم (ع) اولاده یو. د غرب په تمدن کی هم ځان شریک بولو. موږ د استثمار، استحصال او استحمار مخالف یو. موږ د استعمار مخالف یو ؛ هغه که د شرق وي او که د غرب.

د اسلام دښمنانو تراوسه ونه کړای سو قرآن چی د مسلمانانو دستور او قانون دی له منځه یوسي او یا حتی لاس په کښې ووهي. خو د هغه په تفسیر کی یې څه ناځه کار کړی دی او کوښښ یې کړی هغسی یی تفسیر، تعبیر او تفهیم کړي چي د دوی ګټي خوندي کړي. دوی کوښښ کوي چي قرآن د مسلمان د زندګي د لاري ځراغ نه وي او د هغو په تفکر کی ځای ونه لري. کوښښ یې کړی چی مسلمانان یوازي په نوم مسلمان پاته وي او مساجد او دینی مراکز یې نور د قرآن د فهم او په هغه کی د تفکر کار ونه کړي. دوی کوښښ کوي چی قرآن چی د

اسلامی ټولنی د زړه حیثیت لري، داسې وښیي چې ګواکې ناروغ دی او هغه دنده نوره سمه نه سي اجراء کولی چی له ټول بدنه خرابه وینه (فردي او تولنیز مفاسد) راټولوي، تصفیه کوي او پاکوي یې او بیرته یی بدن (فرد او ټولني) ته پمپ کوي او په دې ډول بدن (فرد او ټولنه) سالم ساتي.

یوه ټولنه هغه وخت پر خپلو پښو ولاړه وي او د آزادۍ احساس کولای سي چی خلک یی پوه، علمي سطحه یې لوړه او اقتصاد یی وده کړي وي. استعمار اول د فکر د تولید، د ذهن د ودي او د یوه مستقل شخصیت د روزني ذرایع له پاته ملتونو څخه سلبوي چې هیڅکله د استعمار په مقابل کی حتی په زړه کی هم د مقابلی جرأت ونه کړی. داستعمار یو فکري، ذهني او د شخصیت په لحاظ مات قوم په کار دی چی هیڅکله د عزت النفس، خودي او د مستقل شخصیت د درلودلو فکر ونه کړای سي. دوی زمونږ په روشنفکرانو(؟) کی دا مفکوره تقویه کوي چی غربیان فرهنګیان دي، قوي فرهنګ لري، عقل او

پوهه لري، نوځکه باید توپ، ټانک، موټر او الوتکه جوړ کړي او موږ یوازي د ګل او بلبل په صفت کی شعرونه ووایو؛ هغوی باید مثبت فعالیت او نشاط ولري او موږ تربګني، قومي بدی او یودبل پښې وهل. موږ باید ظاهرا دا دنیا جیفه، مرداره او د کفارو وبولو خو په حقیقت کی غوټې پسې ووهو او په روا او ناروا یی تر لاسه ته کړو. موږ باید د معنویت او آخرت د ګټلو په نوم په دنیا کی بې وسه او رنګزرده ژوند وکړو. موږ خپلو نالایقیو، په دین نه پوهیدو او د پردو نقشو داسی جوړ کړي یو چي د دین دغه حکم هیڅ په نظر کي نه نیسو چي راته وایي: په هر لمانځه کی له الله پاک څخه وغواړه چی یاربه ! ماته د دنیا او آخرت دواړو ښیګڼي راکړه (اللهم ربنا آتنا في الدنیا حسنة، و في الآخرة حسنة، و قنا عذاب النار). دلته یې د دنیا ښیګڼه د اخرت تر ښیګڼي دمخه کړې ده. داځکه چی دنیا د آخرت مزرعه ده. که دنیا نه وي، آخرت بی مفهوم دی. حضرت علی رضی الله عنه فرمایی: « د دنیا کار داسی کوه لکه تل چي

ژوندی یې؛ او (په عین حال کی) له الله جل جلاله داسی ویریږه لکه سبا چی مرې». اهل تشیع وایی چی دا حدیث دی او علی رضی الله عنه له پیغمبر صلی الله علیه و سلم څخه روایت کړی دی (عَنْ النَبی صَل اللهُ عَلَیْه وَآله: اعْمَلْ عَمَلَ امْرَئ یَظُنُّ انّهُ لَنْ یَمُوتَ ابَداً وَ احْذُرْ حَذْرَ امْرِئٍ یَخْشی اَنْ یَمُوتَ غَداً)».

عوام او بیسواده خلک له پیغمبر او داعی څخه معجزه او کرامت غواړي. خو پوه خلک د هغه پیغام ته ګوري. زموږ پیغمبر صلی الله علیه وسلم د معجزو تر څنګ قوي پیغام درلود او د هغه پر حقانیت یی یقین وو؛ تر دې حده یقین چی د کمال ناتوانۍ او ضعف په وخت کی به یې خپلو کمزوریو او خوارو پیروانو ته ډاډ ورکاوه چی بریالیتوب ستاسی دی او د ایران او روم امپراتوریاني به ستاسی په لاسونو فتح کیږي. د هغه وخت روشنفکران چی شاعران او متنفذین وه، د پیغمبر صلی الله علیه وسلم نه وه ملګري. هغوی نه خپله پیغام درلود او نه یی د بل اورید؛ د حق مبارزې څخه

د ډېرو کولو په منظور يې خوشي ځان پوه او د دنيا په حالاتو خبر ښودی ، سفسطه يې ويله او لجاجت يې کاوه. هغوی به ويل محمد صلی الله عليه وسلم او خوار ملګري يې څه کولای سي؟ د دوی څه په وس پوره دي؟ دوی څوک دي او څه په جوړ دي؟ محمد صلی الله عليه وسلم يا ليونی دی او يا له حالاتو ناخبره. دوی به ويل چي محمد صلی الله عليه وسلم بيچاره او ناپوه خلک، لکه: بلال، ياسر، عمار، سلمان، صهيب، ابوذر، ... غولوي او له لويو قوتونو سره يې په جنګ اچوي او په تباهي يې اړوي. د پيغمبر صلی الله عليه وسلم پر دې خبره يې خندل چی د ايران او روم امپراتورياني به د مسلمانانو په لاس فتح کيږي. په کوم قوت؟ دوی يانه پوهيدل يا ځانونه يې نه پوهول چي که يو قوم ته که څه هم ډير کمزوروي آګاهي ورکول سي، پر يو معقول فکري محور راټول سي، عزت النفس او خودي ځان کی پيدا کړي، کار ، مبارزه او پر الله جل جلاله توکل ورته تلقين سي، نو بيا د دنيا لوی لوی کارونه کولای سي. زموږ د

پیغمبر صلی الله علیه وسلم ملګري همدا ډول کسان او واقعي روشنفکران وه. هغوی په پوره صبر او تلاش ، د مسؤولیت په احساس او تر هر راز شکنجو او تعذیب لاندي، د محرومیت او مهاجرت د سختیو په تحمل سره د خپل هدف د بریالیتوب لپاره په متین عزم کار وکړ. بالآخره کامیاب سول؛ ځانونه او امت یې په عزت کړل.

اوس، له تیرو تجربو څخه په استفادې سره، د یوې داسې واقعي روشنفکرې ډلې د وجود او غوړېدو ضرورت دی چې د خپلې ټولنې د سوله ییز بدلون په منظور د دین او مثبتو فرهنګي او ټولنیزو بنیادونو په نظر کې نیولو سره خپل حاصل کړي دیني او عصري علوم د خپلي ټولني د نجات، هوساینې او پرمختګ لپاره وکاروي؛ خپله د دغه لارې مخکښ سي او د ضرورت پر مهال په دې لار کې قربانۍ ورکولو ته تیار وي. د افغانستان د سوله ییز بدلون ټولنه همدغه کار کوي. موږ په همدغه مسیر کی کار کوو او کامیابي د الله جل جلاله په لاس کې ده.

ځانګه به نن سبا کی ګل شي
ما يې په سر کی سرې غوټۍ ليدلي دينه.

فاروق أعظم
کابل
۱/۳/ ۱۳۸۹ ه ش (۲۱ می ۲۰۱۰م)
تلفون: 0703550080
ايميل: azamfarouq@gmail.com Email: